# خوبونه

وږمې راوړه بـــاران راوړه
زلفو له خنده ور کړه توفان راوړه
لږ کړه دمخه آئینه لــوبې کــړه
ما د حـــسرت د بیابـــان راوړه
سوړ شوی زړه به دې احســان وګڼم
خوله د ګلان ســره جانان راوړه
څه چې وایې ژړې قیصې لوبې کړو
راشـــه وایم هغه دوران راوړه
ما یم لمبـــه کړه ترانې ژړنې
بـــله دوره شـــه پښتون راوړه
واعظه ته دې په تقـــوی له وشوم
ماله ساقـــي د ورځـــتن راوړه
زړه لګوم ســترګې به جګې دولم
ښکلې راتلونه کړه رقیبـــان راوړه



صاحب شاه صابر

دویم چاپ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# خوبونه

شعري ټولګه

صاحب شاه صابر

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)



## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم :: **خوبونه**

ویناوال :: صاحب شاه صابر

خپرندوی :: دانش خپرندویه ټولنه ـ پېښور

چاپ وار :: دویم

لومړي چاپ :: نومبر/۱۹۹۴

دویم چاپ :: ۱۳۸۴ل/۲۰۰۵ م

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ زیار : نذیر احمد سهار

کمپوزر : ذبیح الله شفق

چاپ او کمپیوټرځای

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه



Tel/Fax:+92-91-25645123/Email:danish2k2000@yahoo.com



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# د خپرندويې ټولنې يادښت

پښتو ژبه د شعر له پلوه ډېره شتمنه ژبه ده او بيا د لرې پښتونخوا شاعران خو رښتيا هم په پښتو ژبه او پښتنو د الله ج خانګړې لوربينه ده.

دانش خپرندويه ټولنه، چې د لرې او برې پښتونخوا د ډېرو شاعرانو شعري ټولګې يې خپرې کړې او دا لړۍ لا روانه ده، دا ځل د ښاغلي صاحب شاه صابر شعري ټولګه (خوبونه) د دويم ځل لپاره خپروي.

(خوبونه) د ښاغلي صاحب شاه صابر د شعرونو ټولګه ده، چې له نن څخه څه دپاسه نهه کاله وړاندې خپره شوې وه او په بازار کې نايابه وه. د شعر د مينه والو ټينګار په پام کې نيولو سره دانش خپرندويې ټولنې وټاکه، چې نوموړې ټولګه بيا خپره کړي او دا دی اوس ستاسو په لاس کې ده.

موږ له ښاغلي صاحب شاه صابر څخه يوه نړۍ مننه کوو، چې د خپلې شعري ټولګې د بيا چاپ اجازه يې راکړه او ګران لوستونکي يې لوستو ته رابولو هيله ده چې شعري تنده مو پرې ماته شي

په درنښت

دانش خپرندويه ټولنه

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# سریزه

په ادبي بحث کي د تولو نه گران کار د شاعر په شاعرۍ رايي ورکول او د هغې قدر او قيمت ټاکل دي د هغې وجه غالباً دا کېداى شي چې شاعر د شاعرۍ د تخليق په عمل کي چې د کومو کيفياتو او احساساتو تېر وي. هغه د رايي ورکوونکي د نظر نه پناه وي زما مطلب دا نه دى چې د کيفياتو او احساساتو يرغل تش تر شاعرانو محدود وي. د عشق او د ژوند د نورو ناکردو تجربي. د جمال مشاهدات او د جانان و جهان غمونه او فکرونه هر انسان پخپله قبا کي رانغاړي او د هر انسان په ذهن کي رنگارنگ Images راولاړوي.خو هر څوك نه شي کولى چې دغه څهري د قلم په څوکه د ټکو په صورت کي په يوه خوندوره نغمه کي بدلي کړي د شاعرانو کمال هم دا وي چې هغوى دغه Images په يو بناهسته شکل د خپل ذهن نه رابهر کړي او نرۍ ته يي په هغه رنگ وړاندي کړي. څرنگ چې د هغه په خپل ذهن کي خان خلوي د تخليق پيريان په شاعر هر وخت نه. بلکي کله ناکله راخي. د شاعر ددغه وخت تخليقي الهامي او صلاحيت فطري وي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د شاعرۍ فن يو ستر تخليقي عمل دی او دا دهلي فتح کول د هر چا د وس کار نه دی. دا خانله خبره ده، چې د پښتنو په سيمه هغه د چا خبره "د هرې کټې لاندې يو شاعر پروت دی" خوك هم چې په کټمل بسې د ململ. اوربل او بلبل د قافيې د جوړولو توان لري، خان د حافظ او خيام نه کم نه ګڼي. د تك بندۍ په دې دور کې په دې ګڼ شمېره شاعرانو کې هغه کسان د ګوتو په شمېر شمېرلی شي کوم چې واقعي د شاعرۍ په فن پوهه او په ريښتوني معنو د شاعر بللو جوګه دي. زه بغير د خه مخ ملازې ويلی شم چې د شاعرانو په دغه مختصر لسټ کې يو نوم د "صاحب شاه صابر" دی. هسې په ادب کې د شاعرۍ نه علاوه صابر د افسانې، خېړنې او کره کتنې په اصنافو کې هم د ستاينې وړ خدمات لري.

زه صاحب شاه صابر د هغې مودې راسې پېژنم، چې لا هغه په باقاعده ډول د ادب ميدان ته نه و رادانګلي او د سياست په لوبه کې مشغول و د لېونتوب دغه دور هغه په روپوشۍ، د حوالاتو، تانو او زندانونو په ديدار، مقدمو، وهلو ټکولو او نارو سورو تېر کړو او د ژوند خوږه برخه (ځواني) يې د ظلم، استحصال سامراجيت او امريت په ضد مبارزه کې قربان کړه. ښه په نره يې د سماجي انصاف او جمهوري اقدارو د ټېنګو لپاره جدوجهد وکړو. د مبارزې په عمل کې چې کله ډېر "لوی انقلابيان" ونښتېدل او په ښه شول، اخلاقي کمزورو د مصلحتونو ښکار کړل، د اقتدار د شرکت لالچ د نوي نوي انقلاب ضد دليلونو په اختراع مجبور کړل. يرو ترهو دښمن ته لاس په نامه کړل. صاحب شاه صابر نه خو ووېرېده او نه خرخ



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شو، نه يې حالاتو زېه غوڅه کړه او نه په ماضي پښېمانه شو، نه وتښتېدو او نه په مبارزه شرمنده شو، بلکې

"صابر هغسې سرکښ دی، صابر هغسې باغي دی"

ددې تمهيد نه کله هم د چا سپکاوی او يا د صابر د سياسي ژوند او مبارزې خاکه راښکل مقصود نه دی بلکې دا کرښې مې ځکه وليکلې، چې د صابر د سياسي فکر او عمل د هغه په ادبي تخليقاتو زور اثر دی او د هغه د شاعرۍ يو لويه برخه د سياست د ننې بحران آئينه ده.

يو خوب مې رښتيا نه شو
نور خوبونه نه وينم
نور د مينې نه اورم
نوره د زړه نه منم
نور لېونتوب نه کوم
نور خوبونه، نه وينم

په دې کې هېڅ شک نه شته چې زموږ پښتانه روښن فکران په ننني وخت کې د يو زور ذهني بحران سره مخامخ دي. د قيادت خودغرضي اولسي بې حسي او رياستي بېگانگي، د اقدارو او رواياتو د شکست او ريخت عمل او اقتصادي او ثقافتي محرومو پښتانه من حيث القوم د خان نه پردي کړي دي د خان خانې په دې دور کې د حس ذهنونو د ژوند نه بېزاري او مايوسه، يو فطري امر دی خو په بل اړخ د صاحب شاه غرنـدي حس او ذهين شاعر په دې پوهېږي، چې د وخت د درد د ترجمانې فريضه هغه ته په غاړه ده او د هغه ذات محدود: نه دی هغه خبر دی چې د هغه د ذات درد د هغه د نسل درد دی او د هغه روايتو درد دی کوم، چې مات شوي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دي او خــواره واره پراتــه دي د هغــه د شــاعرۍ نــه کــه کلـه کلـه د مايوســي بــوی راخپږي. نــو دا د هغــه د خيــال مسـتقل مظهــر نــه دی هغــه اوس هــم د يــو خوشــاله او بهتــره مســتقبل نــه صــابر صــاحب د ژونــد د نــوي رينبتينولــی د دريافــت کــار اخيســتی دی.

دغــه رنــګ مــوږ وينــو چــې پــه ژونــد کــې د رومانيــت، ســکون قلــب او اخلاقــو ارزښونــه د نــوي صــنعتي تهــذيب لــه کبلــه ډيــر ضــعيف شــوي دي. کــه مــوږ د ســګمنډ فرانيــډ ددې وينــا ســره اتفــاق وکــړو، چــې د تهــذيب انحصــار پــه مســتقله توګــه د انســاني جبلتونــو پــه زبــر کولــو کــې دی. نــو بيــا دا ســوال راپورتــه کيــږي، چــې ايــا جديــد تهــذيب دومــره قيمتــي شــی دی، چــې د هغــې لپــاره دې مــوږ د ابدي عذاب په دوزخ کې وسوځو؟

د صــاحب شــاه صــابر نظــم "د بمبوريــت د يــوې کلاشــې پېغلــې پــه نــوم" ددې ســوال يــو زورور خــواب دی. پــه دې نظــم کــې صــابر صــاحب پــه ډيــر ښکلــي ډول زمــوږ د نــوي صــنعتي تهــذيب پــه ډډوالــي او ددې تهــذيب د پيــدا کــړي ذهنونــو پــه تصــنع طنــز کــړی دی.

شــاعري د يــو شــاعر د خيــالاتو آئينــه او د هغــه د ذهنــي معيــار غمــازه وي. د شــاعر د تخليــق نــه لوســتونکي ډيــر پــه اســانه د شــاعر د شخصــيت انــدازه اخيســتلی شــي او پــه دې پوهيــدلی شــي چــې د شــاعر ذهنــي ســطح څــه او څــومره ده او هغــه د کــوم قبيــل ســره تعلــق لــري. دغــه وجــه ده چــې شــاعري د خپــل شــاعر پيمانــه هــم وي او د هغــه د شخصــيت لازمــي برخــه هــم. د صــاحب شــاه صــابر شــاعري هــم د صــابر صــحب د لــوړ تخيــل، فلســفيانه ذهــن او ســنجيده شخصــيت ترجمــاني کــوي او تــرې د صــبر د ژورې



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

مطـالعې څرګندونـه کېږي. ځيـنې نظمونـه نېـغ پـه نېغـه د فکـري او شـعوري مسـئلو سـره بحـث دی او شـاعر پکـې ځيـنې اضـافي ريښتينولـي پـه ګوتـه کـړې دي. ددې نظمونـو ژبـه هـم لکـه د هغـه د نـورې شـاعرۍ لپـاره پـه متحـرك ژونـد يقـين لـري او د خپلې خونـدورې شـاعرۍ پـه وسـيله د يـو باشـعور، ذمـه وار او د جذبې ډك زلمـي پـه حيث د خپـل ذهـن ډيـوه بلـه ساتي. د هغـه شـاعرۍ د يـو ژونـدي انسـان د زړه درزا او جـرت منـد زلمـي احتجـاج دی. هغه دا عقيده لري، چې:

دا خبره سپينومه
دا خبره رڼومه
چې مس څه دي خطا څه دي
دروغ څه دي رښتيا څه دي
دا خبره به سپينېږي
بيا به ګورو چې څه کېږي
که څوك مري که پاتې کېږي
دا خبره به سپينېږي.

د صـاحب شـاه صـابر شـاعرۍ د خيـال او د خيـال د فنـي رويـې پـه اعتبـار نـه، بلکـې د هيـت او تکنيـك پـه لحـاظ هـم يـو نـوی رنـګ لـري. د هغـې وجـه دا ده چې صـابر پـه ادب کـې تـش د نقطـه نظـر د وضــاحت قابــل نــه دی، بلکــې ادب او فــن د جماليـــاتي تسـکين ذريعـه هـم ګڼـي، هغـه تـش پـه بـې روحـه، مجـردو او زړو تصــوراتو شــخوند نــه دی وهلــی، بلکــې همېشــه يــې تـهــوس حقيقتونـو تـه ګوتـه نيـولې ده او ورسـره يـې فـن او ادب پـه نظـر کـې سـاتلي دي. د هغـه د شـاعرۍ ددې نـوي رنـګ اظهـار ددې مجمـوعې د غزلـو او نظمونـو نـه کېږي. هغـه کـه نعـت هـم ليکلی



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

دی، نو دغه نعمت لکه د روایتي نعت تش تر شمائل نبوی ﷺ محدود نه دی، بلکې اسانه او عام فهمه دی او د علمي تندي په ځنګ کې جمالیاتي تنده هم ماتوي. ددې یو ښه مثال د صابر صاحب نظم "شك او شعور" دی په کوم کې چې شاعر د شك او شعور په جدلیاتي اړیکو بحث کړی دی او دې نتیجې ته رسېدلی، چې "په شك شعور موندلی شي".

زه صابر پېژنم او منم چې هغه تر ډېره حده د یورپي فلسفیانو او عالمانو د افکارو سره بلد دی، خو شاید چې هغه لاددې نه ناخبره وي، چې فلسفي د ریکارټ ډېر وړاندې ددې ریښتینولی اظهار کړی دی.

صابر یو Self Made انسان دی او هغه کله هم د خپل ادبي او پېشه ورانه ژوند په پرمختګ کې د "قلندرانو ملنګانو" د دعاګانو او دمونو د وسیلو محتاجه نه دی. هغه د خپلو کامیابیو لپاره همېشه په خان باور لرلی او په خپلو صلاحیتونو او محنت یې تکیه کړې ده. په پښتو ادب کې د هغه د خدماتو برخه ورځ په ورځ زیاتېږي او زه یقین لرم، چې صاحب شاه صابر به د پښتو ادب د ناوې د سینګار په عمل کې هغه تاریخي فریضه سرته رسوي، کومه چې وخت زموږ د خوان کهول لیکوالانو ته سپارلې ده او د کومې چې زموږ ژبه او قام تقاضا کوي.

په درناوي

سید عابد جان

خزانه دیر

۱۹۹۴/۸/۲۶



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# نعت

د صدو نه

د مودو نه

د کلونو

د پېړو نه

څو کسانو

ظالمانو

سردارانو

د انسان عظمت لوټلو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د انسان غیرت لوټلو
هر څوك سوی لولپه وو
خو چا هیڅ ویلی نه شو
خو چا هیڅ کولی نه شو
د چا ډله نه پره وه
نه رهبر نه قافله وه
نه همت نه حوصله وه
نه امید وو نه اسره وه
بې وسي وه مجبوري وه
د بتانو بندګي وه
دردېده وو تزېنده وه
لوګېده وو سوزېده وو
اخر جام د صبر ډك شو
یو سحر ناڅاپه غږ شو
یو بنده د خدای پیدا شو
پېغمبر شو رهنما شو
بې اسرې بې وسیلې وو



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

خو سړی د کار سړی وو
د خپل خدای د شان خبر وو
لوی نبي لوی پېغمبر وو
د توحید اعلان یې وکړو
د تجدید اعلان یې وکړو
په بتانو یې تور ووی
په غټانو یې تور ووی
د مظلوم هیبت یې ورك كه
د ظالم غرور یې سپك كه
سرداران یې کوړ و کړ کړه
ټول بُتان یې کنډ کپر کړه
د تفریق زهر یې خام کړه
د توحید شراب یې عام کړه



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# د بمبوریت د یوې کلاشې پېغلې په نوم

د حســـن د ګلونـــو د رنګونـــو بلـــې شـــمعې
د غرونـــو د ښاپســـت پـــه ګړنګونـــو بلـــې شـــمعې

د نـــوي پېغلتـــوب پـــه بـــام ولاړې جـــادوګرې
پـــه زړه کـــې د شـــاعر د محبـــت نـــوې ســـندرې

مـــنم چـــې تـــه د ډېـــرو خوشـــحالو ســـره ناآشـــنا یـــې
د نـــوي ژونـــد لـــه نویـــو رنګینـــو ســـره ناآشـــنا یـــې

منم چې ستا په ژوند کې به بلا ځیزونه کم وي
مَنم چـې سـتا پـه زړه بـه د بـلا ځیزونـو غـم وي

مـــنم چـــې تـــه بـــه ډېـــرو رڼاګـــانو تـــه پســـخېږې
مـــنم چـــې تـــه بـــه ډېـــرو اداګـــانو تـــه پســـخېږې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

منم چې ستا د کلي په کورونو کې تیاري دي
منم چې ستا جامې لړېږې خیرنې دي زړې دي

خو ته د خپل ښایست د پېغلتوبه خبر نه یې
خو ته د خپل تهذیب د سړیتوبه خبر نه یې

ته دلته د فطرت د رنګینو په غېږ کې اوسې
ته دلته د قدرت د تماشو په غېږ کې اوسې

ته دلته بله شمع د رنګونو د قیامت یې
ته دلته کې ښایست یې لېونتوب یې محبت یې

ته دلته د انګورو د ترخو اوبو خمار یې
ته دلته د خپل زړه د خپلې خوښې خپل اختیار یې

شپېلۍ وهې شپېلي وهې چې ګرځې په پټو کې
چې زړه دې وشي ګډه شې د کلي په کوڅو کې

د خپل زړه خپلې خوښې د انا په تار غړېږې
په چا چې دې زړه ورشي د هغه سره ګډېږې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بې غمه، ناخبره، د ثواب او د ګناه يې
خو! بيا هم په زړه سپينه يې معصومه يې صفا يې

د ژوند د بې وسۍ د مصيبته خبر نه يې
د نوم منافقت د مصلحته خبر نه يې

دا تا چې د کوم نوي ژوند خبرې اورېدلې
دروغ دي دا دروغ دي چا دروغ درته ويلې

په هغه ژوند کې څه دي که صفا مې درته ووې
دروغ به درته ښکاري که رښتيا مې درته ووې

د هغه نوي ژوند د سرېتوب بلا کمی دي
د هغه ځای د خلقو څه ناشوني مجبوری دي

ژوند څه دی يوه بلا ده يو عذاب دی يو هيبت دی
دوکه ده بې ايماني ده سراسر منافقت دی

ذهنونه پکې هسې د وهمونو کارخاني دي
سرونه د پيريانو د ديوانو ښاريې دي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

فکرونـــه د تـــارکولو غزبـــدلي ســـرکونه
خیالونـــه د ســـپمتیو د ســـیخونو دکانونـــه

خوانـان پکـې هغـه چـې جـوړولی شـي نوتونـه
سـړي پکـې هغـه چـې ډکـولی شـي بینکونـه

ښاپست يې په پردو رنګونو خان سینګارول دي
الفـت يـې د دروغـو د درنکونـو کنسـتل دي

جانان يې يو رنګين مهين پې مخې غوندې دام دی
جنـون يـې د غـرض پـه لمبـو سـوی تـور غـلام دی

يـاري پکـې د سـپيني خودغرضـه بـوډۍ تـال دی
خپلـوي پکـې د خپلـو غرضـونو نـرى جـال دی

ګنـاه پکـې د هـري نـاروا لاس اخيسـتل دي
ثـواب د چـا بـې وسـه پـه مـرى چـاړه رابنکـل دي

عصمت پکـې د بـزر د کبـاړي د دکـان کـوټ دی
قيمـت د سـړيتوب پکـې د سـلو روپـو نـوټ دی



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

غیـرت پکـې یـو شـی دی په یـوه کاسـیره کېـږي
ایمـان پکـې د هرڅـه نـه په ښـه بیـه خرڅېـږي

د حســن د رنګونــو دکانونــه پــه پیســو دي
د ښکلــو د مخونــو تصــویرونه پــه پیســو دي

هر خیال د سرېتوب پکې ناشونی غونډې شی دی
احســاس د محبـت پکــې بــې وسـه لېـونی دی

ژوند څه دی خو د ژوند په حقیقت پورې خندا ده
پـه حسـن پـورې تـوکې دي الفـت پـورې خنـدا ده

چې دلتـه راپـه یـاد شـي زړه مـې وریـې خفـه شـي
ورغلـي پرهرونـه مـې خولـه پرانېـزي کچـه شـي

حیـا مـې لکـه وینـه پـه رګونـو کـې تـوده شـي
احســاس د بـې وسـی لکـه ګـرمکې راچوکـه شـي

زړ خپلـه د هغـه تهـذیب د لاړو کوځـو سـتړی
ره سـتا د سـترګو وړانـدې د هغـې ادیـرې مـړی



(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

په ما که دې څه وس رسي واپس مې راژوندی کړه
پـه مـا مهربـاني وکـړه د خانـه مـې لـوګی کـړه

په ما کې که څه ساده وي هغه ساده زما نه واخله
زمـا سـره کـه ښـه کـوې نـو مـا زمـا نـه واخلـه

اوبـه کـه د انګـورو لـړې پـاتې وي نـو راکـړه
زمـا د وجـود وینـه پـه ترخـو اوبـو صـفا کـړه

زمـا خـواره دردونـه پـه خـالونو کـې راپنـډ کـړه
زمـا د زړه زخمونـه د شـلېدلي ګـګـرې ګنـډ کـړه

مـا دلتـه ددې غرونـو د مانبـام پـه دعـا رنـګ کـړه
په دې پولو مې اونوله په دې لښتو مې بنګ کړه

قربان شمه لوګی شم ما د خپلو سترګو تور کړه
ددې غرونـو پـه دغـو ګرنګونـو کـې مـې خـور کـړه



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

وربخـــي راولـــه بـــاران راولـــه
زلفـو لـه څنډې ورکـړه توفـان راولـه

لــر کــړه دمخــه آئينــه لــري کــړه
مــا د حـيـــرت د بيابـــان راولـــه
ســـپرليه زه بـــه دې احســـان ومـــنم
خـو تـــه د ځـــان ســـره جانـــان راولـه
څه چې واپس زړې قيصې نـوې کـړو
راشـــه واپـــس هغـــه دوران راولـــه
ماښـــام لمبـــه کـــړه تيـــارې وتښتـــوه
بلـــه ډيـــوه شـــه پتنګـــان راولـــه
واعظـــه نـــه، پـــه تقـــوى نـــه رغيـــږم
مالـــه ســـاقي د روهســـتان راولـــه

زړه نظـــر ســـترګې پـــه جرګـــه درولـــم
ښکلـي راغونـډې کـــړه رقيبـــان راولـــه.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

کلي خبر دی څوک دي ونهویني
مه خه سحر دی څوک دي ونه ویني

زما د هر سري نه یره کېږي
په چا باور دی څوک دي ونه ویني

په هر ګټ پېر د نظرونو څوکي
هر خوا خطر دی څوک دي ونه ویني

په دي شکمنه بلي مه ودرېږه
وخت مازیګر دی څوک دي ونه ویني

قیصي پرېږده لنډه خبره کوه
لار ده، ګودر دی څوک دي ونه ویني

خوا له مي مه راځه بدنامه به شي
صحرا ده، غر دی څوک دي ونه ویني

په دي کوڅه کي مخامخ **صابره**!
د جانان ور دی څوک دي ونه ویني



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

هغه مستي هغه غورځنګ نه کوي
سترګې دې اوس د مينې جنګ نه کوي

د پېغلتوب د مستۍ خير خو دې وي
بنګړي دې شور نه کوي شرنګ نه کوي

زمونږ د ښار ښاپېرۍ اوښکې پيري
زمونږ د غره غاړې لونګ نه کوي

هغه هم ستا د ښو وبوږنېږي
چې د سنګزنو تورو څنګ نه کوي

مونږ په دې لاره بلا وينې توی کړې
خو هسې نه رهبري رنګ نه کوي

د محبت په سيند وينځلي زړونه
په خيرو نه خرېږي زنګ نه کوي

**صابر** د مينې د نشې آموخته
په صابر بنګ نه لږي بنګ نه کوي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د ارمان ونې مې سمسورې نه کړې
خو د وفا لارې مې نورې نه کړې

د درد په څرېکو کې مې وخندوه
غم له مې هسې سترګې تورې نه کړې

د انتظار د صحرا تنده توبه
په ما يې هسې لمبې پورې نه کړې

خدايه که هر سيوري ته کښېناستمه
هېر مې د هغو زلفو سورې نه کړې

اوس مې د نوم د توره مه يريږه
ما درته وې چې سترګې تورې نکړې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د هــر پرهــر نـــه مـــې نچــوړ کـــړه وينـــه
خـــو د نظــر پيـــالې نســـکورې نـــه کـــړې

د درنــــو ســـترګو درنـــو زلفــــو مينـــې
هســـې نـــه مـــا پـــه زړه کمــزورې نـــه کـــړې

خـــان مـــې پـــه خـــه خـــه لمبـــو ونـــه ســـېزو
تـــه مـــې د کـــوم کـــوم اســـمان ستورې نـــه کـــړې

مـــا پـــرې د زړه د وينـــو رنـــګ ونوســـتو
مـــا د غـــزل تقاضـــې ســـپورې نـــه کـــړې.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د يقـيـن كــور بيخـي ميـرات نـه شـو
زړه کـه مـې وچـاوده خو مـات نـه شو

مـيـنې تـه يـو وخـت ملامتـه نـه شوم
غم دې په يو موسم کې قات نـه شو
نـن دې بڼـو راسـره جـنـګ ونـه کړو
نـن دې کاتـه راتـه پسـات نـه شـو
د زمـانې زيـاتي تـه ګـوره کنـه
په موره يې سود يو ملاقات نه شو
پـه دې بـنـار داسـې نفرتونـه آبـاد
د مـيـنې نـوغى پکـې زيـات نـه شـو
خـه کـه حـالاتو پـرې لښکـرې وکـړې
زړه مـې خيبـر وو سـومنات نـه شـو

***صابره*** نـه بـه وي سـپرلى بـه نـه وي
کـه لېونتـوب دې پکـې زيـات نـه شـو



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

سینګار د زړه د پرهرونو کوو
ننسبا مینه د ګلونو کوو

په تودو څړیکو یې وینځلي ساتو
څومره پالنه د زخمونو کوو

کر د ګلونو، ارمانونو کوو
سوال د سپرلي د بارانونو کوو

بویه چې دا ازغي ګلونه سپړي
بویه چې لوبې په رنګونو کوو

چې د خوبونو تعبیرونه غواړو
بیا خو به لوبې د سرونو کوو

څومره بې خوږو بې خوږو خلقو ته
قیصې د زړونو د دردونو کوو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

یـــاران د تبـــرې زمـــانې یـــادوو
ارمـــان د ورانـــو محفلونـــو کـــوو

کـه د هـر بنکلـي قدمونـه شـمارو
خـو وظیفــه د یــار د پلونــو کـــوو

هـر وخـت بـه څـه نـوې کـوو خبـره
یـــوه خبـــره د کلونـــو کـــوو

پـه خـورو زلفـو کـې مـې وزنګـوه
بیـــا بـــه خبـــرې د دارونـــو کـــوو

د میـنې سـل مجبـورۍ سـل غمونـه
انتظـــار هـــم پـــه انګـــارونو کـــوو.

❋ ❋ ❋



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# هغه کوڅه

زه اوس هم کله کله
د خپل عادته مجبور
د محبته مجبور
په هغه لاره ځمه
هغه کوڅې ته ګورم
هغه کوڅه چې چرې
ستا د ليدو ځای وو
د اوسېدو ځای وو
ماته جنت ښکارېدو
د ښاپېرستونو جنت
د الفتونو جنت

زه اوس هم کله کله
د خپل عادته مجبور
په هغه لاره ځمه
هغه کوڅې ته ګورم



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چرته چې ته اوسيدې
ستا ګاونډيان وو پکې
بلا کسان وو پکې
ټولو به ته پېژندې
ټولو به زه پېژندم
زموږ په زړه پوهېدل
ښځې نر ښه پوهېدل
کله به يې ته خارلې
کله به يې زه خارلم
چا د دېوال د سره
چا د کوټې د بره.

چا د خپل وره نه پناه
چا د کوټ پېره په غلا
پټ پټ خارلو موږه
آزارولو موږه
خفه کولو موږه
چا پوپولو موږه
خو موږه نه پوهېدو



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

موږه په څه پوهېدو
موږ د چا نه اورېده
موږ د چا نه منله
موږ خو د مینې په نوم
د محبت په خاطر
په هرڅه اور لګوو
د هر څه تېر ناست وو
زموږ د زړونو په اور
زموږ د مینې په شور
هغه کوڅه ګرمه وه
د ژوند قیصه ګرمه وه

زه اوس هم کله کله
د خپل عادته مجبور

چرته چې زه درتلمه
چرته چې ته اوسېدې
بلا کسان وو پکې
وران ماشومان پکې
ټولو به ته پېژندې



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

تولو به زه پېژندم
څوك آشنايان وو زما
څوك دښمنان وو زما
چا به زما په ليدو
ما له ګلونه راوړل
د کشمالو ګلونه
ستا د کمڅو ګلونه
چا به زما په ليدو
ماته حالونه ويل
زما او ستا حالونه
څوك به خفه وو زما
څوك به غصه وو ماته
چا به په پټه، پټه
خلقو ته ووې زما
چا به په چغو سورو
دنيا خبر کړه په ما
ورځ د محشر کړه په ما

زه اوس هم کله کله
د خپل عادته مجبور



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په هغه لاره ځمه
هغې کوڅې ته ګورم

اوس په هغې کوڅه کې خاورې ریګونه نه شته
وران دیوالونه نه شته
رغښتې کوړونه نه شته
کانې توپونه نه شته
اوس په هغې کوڅه کې
هر خوا پاخه کورونه
د ښختو سره کورونه
هر خوا پاخه فرشونه
خو اوس د هغې کوڅې
هغه مزه نه شته دی
هغه چرچه نه شته دی
هغه بې سره پېغلې
هغه خودسره زلمي
هغه بې غمه واړه
هغه ساده ماشومان
د شورو شره پاتې
د هنګامو وتې دي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د رنګينو وتي دي
هر څوك د ژونده ستړي
هر څوك په ژوند كې ستړي
نه زندګي پېژني
نه رنګيني پېژني
نه پسرلي پېژني، نه لبوني پېژني
دا په دوى څه شوي دي؟
دا په دوى څه شوي دي؟
حالات سنګين سهي خو
داسې سنګين خو نه دي
دومره غمګين خو نه دي
چې د سړي د سترګو خوبونه وتښتوي
يادونه وشكوي
د خپل ماضي يادونه
د مستقبل خوبونه.



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ګلـــه ګــــلاب ګلـــه لــــونګ راوړم
ستا د کوځې څه نه څه رنګ راوړم

بلې نشې مې سودا ورکه نه کړه
خـــم د ګـــودر د غـــاړې بـــنګ راوړم
شـــوګيرې ســـترګې خوبــــولې نظـــر
ســـتا د ځـــنګلې ســـتا د ځـــنګ راوړم
د محبـــــت نــــوې دنيـــــا لټـــوم
د زندګـــــــۍ نــــوی آهـــــنګ راوړم
ســـتا د بڼـــو پـــه ژبـــه ځـــان پوهـــوم
پرېـــږده چې زړه پـه وينـو رنـګ راوړم
ستا خوږو سترګو ته خواږه ګورمه
زه لېـونی يـم ځـان لـه جـنګ راوړم

هغه **صابر** يم که په هر ځای کې يم
تالـــه راځمـــه ســــتا قلـــنګ راوړم.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

نــه پــه دعــا نــه پــه هنــر کېــږي
عشـق د سـر لويـه ده پـه سـر کېـږي

زړه مـي خورېــږي زلفــي مـه خـوروه
د خـــورو زلفـــو مـــي خطـر کېـــږي

ستـا د کـوخي خـاورې پـه سـر بـادوم
پـه مـا خـه چـل هـر مـازيگر کېـږي

زه د هـر ښکلـي پـه وعـده تېـر وخـم
زمـا نـه دا غلطـي اکثـر کېـږي



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

زړه که مې سل ځله د کاڼي کړمه
خو په ده ستا د مخ اثر کېږي

اوس هم زما او ستا د مينې ذکر
کله ناکله په ګودر کېږي

د ښاپستونو د سپرلي په تمه
د محبت د فصل کر کېږي

شپه به د مينې په قيصه تېروو
نوري خبرې به سحر کېږي

زما **صابره** ستا د مينې په نوم
ما سره هره ورځې شر کېږي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د یــار د کلــي د کــوخې مــازیګر
مـا لېـونی کـړي، لېـونی مـازیګر

مـا پـه جنـت هـم بـدل کـړی نـه دی
د محبـــت د مېکـــدې مـــازیګر

د زړه د درده نـــــاقلاره ومـــــه
د اور تـرخې اوبـه مـې څښـې مـازیګر

سـم د مابنامـــه تـــبې ونیومـــه
تـا راتـه کـړې وې ښېـرې مـازیګر



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

رقیبان وبورژنېده وویرېده
مورې چې شوو یو بل ته نزدې مازیګر

ستا د ښاپست نه تاوېده لوګېده
غزل غزل سپرلی سپرلی مازیګر

ستا په کوڅه کې راتر غاړې وځي
انګار انګار، لمبې لمبې مازیګر

خان یې ستایه د خان صفت یې کوو
زما غزل یې ماتوې مازیګر

زمونږ کوڅې ته دې کاته روان وي
زما **صابره** ما لیدې مازیګر.

❋ ❋ ❋



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د زړه د درده لېـوني شـوې کـه نـه
زمـا صـابره تـه سـړی شـوې کـه نـه

تـــا د الفـــت معجـــزه نـــه منلـــه
زه چې لمبه شوم ته لوګی شوې که نه
د محبـــت ګرمـــي دې ولیدلـــه
په یخو واورو کې خولې شوې که نه
مـا چـې د زړه د رڼـا رنـګ ورکـړو
د انتظـار لارې رڼـې شـوې کـه نـه
مـا درتـه وی چـې سـترګې مـه تـوروه
د خلقو سترګې درپسې شوې که نه
نـــوی الــــزام رابانـــدې ولګـــوه
زړې خبـرې خـو زړې شـوې کـه نـه

د ښـو ســوري تــه مــې کښېنــولې
**صابره** سترګې دې مړې شوې که نه.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

مړه دې ونه کاته اوده دې نه کړم
نسکور پرې نه وتم نشه دې نه کړم

هسې دې وسوم لوغړن دې کړمه
ګوګل مې يخ نه شو لمبه دې نه کړم

په ننني خندا دې ويرېدم
زړه مې غوخ غوخ نه شو اره دې نه کړم

د تودې غېږې د خوبونو ياده
خوب دې رانه وستو دمه دې نه کړم

بلا دې واخلم تر بلې رانغلې
مازيګر تېر شو غرغره دې نه کړم



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

مخـې لــه راغلــې ژړغــونې دې کـــړم
پـــه مـڅــه لاړې دلاســـه دې نــه کـــړم

څــه راتــه ووايـــه پـــه څــه خفــه يـــې
څــه شـولې پويـه پـه قيصـه دې نـه کـړم

ميـــنې پـــه هـــر ميـــدان دې وګټيلـــم
يو ځاى دې پرې نښوم پيکـه دې نه کړم

اوس بـه مـې بيـا درتــه ښـېـرې کـولې
**صابره** ښــه ده چـې غصــه دې نـه کـړم.

✲ ✲ ✲



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

کـه ستا پـه مـخ ستـا پـه کاکـل نـه لـیکم
بیـا خـو غـزل نـه دی غـزل نـه لـیکم

مـــا دې زمـــا د زړه آزار ووهـــي
کـه پـه قامـت او پـه اوربـل نـه لـیکم

ســتا یــې منلــه ســتا یــې ومنلــه
بس دی د خپـل زړه سـره خپـل نـه لـیکم

بیــا بــه د زړه خبــرې زړه کــې ســاتو
بیـا بـه روداد سـتا د محفـل نـه لـیکم

نــور پــرې د زړه د وینــو رنــګ نولمــه
نــوره د ګـل قصــه پــه ګـل نـه لـیکم

هغـه خوبونـه مـې پـه سـترګو کـې دي
خـنګ بـه د بنکلـي پـه څنګل نـه لـیکم.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# ته او زه

که ته د خپل ښاېست په نوم په کلي کې بدنام يې
زه هم د محبت په نوم د ژبې اوېزان يم

که ته د خپل ښاېست د نزاکت قصيده ګو يې
زه هم د تورو زلفو سپينو لېچو غزل خوان يم

که ته ددغه ښار د محفلونو رنګيني يې
زه هم د زندګۍ د قافلې روح روان يم

که ته د يو څو زړونو د يو څو ورځو باچا يې
زه هم د حسرتونو د جاګير خود سره خان يم

که ته د ګل په شونډو د سپرلي بلبه ډيوه يې
زه هم د پسرلي د رنګينو نوی سحر يم

که ته د خپل ښاېست په بام ختلی مازيګر يې
زه هم د ميني نوی لمبنه شوی مازيګر يم



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

که ته د خپل ښاپست د زوره نوی لېونی یې
زه هم د محبت د لويې لارې مسافر یم

که ته د اداګانو د نازونو جادوګر یې
زه هم د لېونتوب د کمالونو نه خبر یم

که تا د خپل ښاپست په مدرسه کې څه ويلي
ما هم د محبت د کتابونو څه زده کړي

که تا د خپل ښاپست په پتنګانو لوبې کړي
ما هم د زندګۍ د تکليفونو څه زده کړي

که تا په ډېرو خلقو خپلې سترګې ازمايلي
ما هم د پرهرونو د دردونو څه زده کړي

د نورو قيصې نورې دي زما خبرې نورې
زما نه که ته زړه غواړې زما زړه ته به ګورې.

❋ ❋ ❋



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# نه

نه يو تېکی دی، يو غر دی
يو افت دی، يو غضب دی
چې په کومه ژبه واوړي
هغه ژبه دايمي شي
لافاني شي، لاثاني شي
نه تشېږي، نه غوځېږي، چې خوزېږي
د چا راج ته خطره وي
د چا تاج ته خطره وي
نقص امن وي، فتنه وي
د مودو نه، د صدو نه
د کلونو، د پېړو نه
سردارانو نوابانو
زور آورو، اميرانو
دغه تېکی فتح نه کړو
په دې تېکي کې لوی توان دی
د عمرونو پهلوان دی.



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

○

ستوري يو، ډيوې يو، مشالونه يو
موږه به د غرونو يو خو غرونه يو

څه حاجت زموږه په چا څه پرواه
خپله لبوني خپله دشتونه يو
عشقه چې هرڅه يو ستا د خاورې يو
کاني يو غمي يو که لعلونه يو
تل د طوفانونو سره نښتي يو
خومره ناقلاره ارمانونه يو
ودرد بړو خوږ شو چې خوك وژاړي
څه د لېونو خوږمنو زړونه يو
وتړو کېږو ورژېږو خاورې شو
موږ د ښنتنې مېرې گلونه يو

هغسې هم سوزو هم رڼا کوو
هغسې بل شوي انگارونه يو.

۱۸ اگست ۱۹۸۶



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

نوی سبق نوی کتاب غواړي
غرځنی سترګې انقلاب غواړي

نننی ژوند نننی عقل فکر
نوی نظر نوی نصاب غواړي
ستا د ښاپست په نوم بدنامه مینه
ستا د قامت د صلیب تاب غواړي
خیال په خورو زلفو کې وغزېد
ځواني مستي غواړي شراب غواړي
سترګې څه بل رنګې ښاپست لټوي
مینه څه بل شان انتخاب غواړي
د بې وسی خاموشه غلې جذبې
لړزېده غواړي اضطراب غواړي

یو سړي خان ته ملامت ونه وې
هر څوك د نورو احتساب غواړي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زړه بـــه د میـــنې ســـمندر ګرځـــوو
ستا د غـم غرونـه بـه پـه سـر ګرځـوو

پـــه خړیکـــو هغســـې دردونـــه پېـــرو
زخمونـــه هغســـې پرهـــر ګرځـــوو
اوس هـــم د میـــنې لېـــونې خیالونـــه
ســـتا د یـــادونو پـــه ګـــودر ګرځـــوو
یو ښکلـی هغسـې نیازبین دی زمـوږ
یـــو ســـړی هغســـې پـــه سـر ګرځـــوو
یو ښکلی هر وخت په نظر کې ساتو
یـو ګـل پـه ګوتـو کـې اکثـر ګرځـوو
د نفرتونـــــو د تیـــــارو د یـــــرې
پـه زړه کـې پټ د میـنې لمـر ګرځـوو

زمـوږ د شپې شـوګیرې هسـې نـه دي
پـه ښـار کـې زهـری د سـحر ګرځـوو.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

دردونـه پـه سـینو کـې پرهرونـه پـه سـینو کـې
ساتو د مینې لوی لوی ارمانونه په سینو کې

پـه تمـه د سپرلي د رنګینـو د بـارانونو
ساتلي مو تنکي زخمونه په سینو کې
ړبـړو د یـارانو تـنګ نظـرو د خبـرو
وراسته مو کړل د ښکلو تصویرونه په سینو کې
خـوږو خـوږو سـندرو تـه لېوالـه لېوني یـو
توکېږي مو خواږه دردونه په سینو کې
زمـوږ مخـې تـه څـه د نفرتونـو دیوالونـه
بهېږي مـو د مینې دریابونـه پـه سـینو کـې
تـر هغـې بـه رواج د خاموشـۍ تـه خطـره وي
تر کومې چې درزېږي زموږ زړونه په سینو کې
دنیـا پکـې د حـورو د غلمـانو د شـرابو
زمـوږ لېونـو زړونـه جنتونـه پـه سـینو کـې

د مینـې د ګـودر چپـو وهلـي یـو **صـابره**
زموږه هسې نه خېژي برېښنونه په سینو کې.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

اوس يـې د زړونــو ســوزېده زده کــړه
ســترګو دې اور لمبــه کېـده زده کــړه

د ګړنګونـــو خـــو بـــه اوس پرېوخــو
غرځنـــى تــا د هوســـى تلــه زده کــړه
ســـتا دېوالونـــه د نظـــره مـــه شـــه
مـــا آســـمانونو تـــه خاتـــه زده کــړه
يـــارانو نـــن مـــې لېـــونى وګڼـــى
بنکلـــي آشـــنا بنکلـــي کاتـــه زده کــړه
دا مې په يو کتاب کې نه شو لوستى
د محبتـــه چـــې مـــې څـــه زده کــړه
ســـاقي پـــه داســـې غـــم دې واړولـــو
نه مې توبه زده نه مې څښبه زده کړه

زه دې احســـاس د ســـمندر لامبـــوزن
مــا پــه ســور اور کــې اوســېده زده کــړه.



کــتابــتــون ټــولــنــه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ستا په خورو زلفو کې شپه کومه
د عمــر ستړی یــم دمــه کومــه

ستا د تودي غېږې سودا اخیستی
یخـې سبلی تــه شــوګیره کومـه
د پرهــر ژبــه مــې تنهــاکې شــوله
ستا د تـودو شـونډو قیصـه کومـه
ستا د جبـین آئینـه تتــه مـه شـه
زه پکــې خپلــه تماشـــه کومـــه
ستا د بڼــو د تصــور پــه ســوري
لـږ غونـدې خـوب هـره غرمـه کومه
د الزامونـــــو د ســـــورو لاس آزاد
د جانـــان ذکـــر پـــه ښکـــاره کومـــه
پـــه دردېـــدلو تږقېـــدلو خړیکـــو
ســـتا د یـــادونو وظیفـــه کومـــه

مینـه مـنم خـو پښتــو نــه مــاتوم
ســتا نــه بغېــر بــه ګــوزاره کومــه.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د يــــاراني لوظونـــــه مـــــه مـــاتوه
مـــه كـــوه مـــه! ګلونـــه مـــه مـــاتوه

ګلــه بــې خايــه ستـركې مــه خــړوه
هســـې زمـــوږه زړونـــه مـــه مـــاتوه

د احتســـــاب وختونــــه تلــــي ســـاقي
يرېـــږه مـــه جامونـــه مـــه مـــاتوه

زمـــاني مـــه چېـــړه د زړونـــو ســـره
د محبـــت ملكونـــه مـــه مـــاتوه

قاصـــده هيـــري قيصـــې مـــه يـــادوه
د زړه ورغلـــي ورونـــه مـــه مـــاتوه

د شـــــيريني شـــــرطونه ويېژنــــه
فرهـــاده! هســـې غرونـــه مـــه مـــاتوه

ستـــا زنځيرونـــه ماتېـــدونكي نــه دي
**صـــابره**! خپـــل لاســـونه مـــه مـــاتوه.



كـتابـتـون پـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# پېرزوینې

مـنم چـې تـه د حسـن د رنګونـو بـاډیوه یـې
مـنم چـې تـه د مینـې د مسـتی بلـه ډیـوه یـې
منم چې ستا په سترګو کې د نوې نشې اور دی
منم چې ستا په شونډو د سپرلي د خندا شور دی
مـنم چـې سـتا نازونـه پرهرونـه خنـدوی شـي
مـنم چـې اداګـانې دې سـپرلي لمبـه کـوی شـي
منم چې ستا په زړه کې څه خبره څه قیصه ده
منم چې ستا زما نه څه خفګان دی څه ګیله ده
پوهېــږم پــه غصــه غصــه کتلــو دې پوهېــږم
د ســترګو د بڼــو پــه خوزولــو دې پوهېــږم
زه هم څه ویل غوارم خو په زړه زړه کې یرېږم
د مخـه دې شـرمېږمه، د سـترګو دې شـرمېږم
چې خوله جوړول غوارمه حیا راشي پیکه شم
په ځان پورې خندا راشي د ځان سره کچه شم
دا نــه چــې زه بــې زړه یمــه یرېږمــه شــرمېږم
دا نـه چـې زه بـې مینـې یم د مینـې نـه پتېږم
دا نه چې ستا د حسن په رنګونو بدګومان یم



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دا نه چې ستا د مينې په لوظونو بدگومان يم
خو دا ماحول د مينې د الفت دپاره نه دی
دا کلی دا وطن د محبت دپاره نه دی
دا بېله ده چې زه پکې د عشق سندرې وايم
دا بېله ده چې زه پکې سره د مينې پايم
خو زه چرته د بلې ختمې جوړ يم خبر نه يم
چې هر څومره کړېږمه درد ډېرېږم دومره ښه يم
د خپل وجود په اور کې لکه شمع ويلې کېږم
د گل هسې چې هرڅومره دوړېږمه تو کېږم
خو ته مې د فريب په جادوگرو پېرزو نه شې
خو ته مې ددې خلقو په خبرو پېرزو نه شې
دا خلق خو ته پېژنې چې څومره دروغژن دي
مخونه يې صفا سهي خو زړونه يې خيرن دي
د مينې د مينو دښمنې يې مشغله ده
نفرت يې د ژوند لويه مستنده فلسفه ده
زه خپله فکر وړی يم حيران يمه سودا کړم
چې داسې څه ځای وگورم چې داسې څه پيدا کړم
چې تا پکې د مينې د دردونو غوندې پټ کړم
چې ځان پکې د خپلو پرهرونو غوندې پټ کړم
چې تا پکې ددې خلقو د سترگو نه پناه کړم
چې ځان له پکې جوړه د الفت بله دنيا کړم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# سندره

پـــه انګارونو کې مې ونغاړه زخمونه
کــېږده په زلفو کې ګلونه
په تودو څړیکـــــو راله وینځه پرهرونه
کېږده په زلفو کې ګلونه

مابنام په سترګو کې لمبې کړه
بـــــلې د سرو ګلو ډیوې کړه
مـــــا سرګردانه لېونی کـــړه
پـــه زړه مې ښخ کړه د ښو تېره سرونه
کېږده په زلفو کې ګلونه

زمـــا د دواړو ستـــرګو توره
بانه خنګزن کـــړه ماته ګوره
یه د ښاپست د سپرلي اوره
لږ مـــې رڼا کـــړه د دردونو تصویرونه
کېږده په زلفو کې ګلونه

لږ مـــې په سترګو کې دمه کړه
د وجود رګ رګ مې نشه کړه
د عمـــــــر تنده مې سړه کړه
نن مې رښتیا کـــړه د خوبونو تعبیرونه
کېږده په زلفو کې ګلونه.


(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

خون بـه مـې واخلـي قـاتلانې بـه شـي
زلفـې دې مـه سـموه ورانـې بـه شـي

پـه آئينــه کـې سـترګې مـه تـوره
ځان تـه بـه وګـوري حېـرانې بـه شـي
زمـوږ وعـدې د ښکلـو ښځـې نـه دي
چې رنـګ بـه واړوي ارزانـې بـه شـي
د محبـت خـواري دې هېـره مـه شـه
لارې کـه ګـرانې دي آسـانې بـه شـي
سـتا د ښاپسـت تخـم بـه نـه ورکـوي
د زړونـو زمکـې دې ودانـې بـه شـي
بـلا دې واخلــم زلفــې مــه خـوروه
بـلا بـه واخلـي بلاګـانې بـه شـي

د تــورو ســترګو دروغــژنې قيصــې
**صـابره** مـه سـپينوه ګـرانې بـه شـي.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

زما وجود شوې زما ساه نه شوې
زما اشنا زما اشنا نه شوې

ماته خپل ځان او ځان مې ته ګڼلې
ته د خپل ځان وې ته د چا نه شوې

بس ده چې دومره خو دې وپېژندم
مخې له راغلې وارخطا نه شوې

زه وسوسو په مخه واخيستمه
تا شونډې پرانستې ګويا نه شوې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زه دې الفت ته ملامته کړمه
د يار بلا زما بلا نه شوې

سترګې يې بيا هم پښتنې وې کنه
بې وفا شوې خو بې حيا نه شوې

مينې منمه چې د هر ازمېښته
زه روستو نه شوم ته په شا نه شوې

زړه د بلا ښېرو مې وويشتلې
خو د وهمونو نه صفا نه شوې

تا د **صابر** لېونتوب څه وليده
ته دصابر د زړه سودا نه شوې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

حســن چـې ګلونــه شــي رنګونــه شــي
زړونــــه بهارونــــه شــــي

څـو چـې هغـه سـترګې هغـه سـترګې وي
څنګ بـه زمـوږ زړونـه زمـوږ زړونه شي

دا بنګلـي د کـوم سـپرلي د کـوم کلـي
هسـې چـې لـږ وخانـدي ګلونــه شــي

دا زخمونــه دومــره بــې نــوا نـه دي
دلتــه د دردونــو محفلونــــه شــــي

چاتـه د دعــا پـه وخـت کـې يـاد نـه وي
ورك دي د مينـــو نصـــيبونه شـــي



(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

تــه د انتظــار شــپه يــوه شــپه ګڼــې
ماتــه خــو کلونــه شــي عمرونــه شــي

ســتا يادونــه دومــره بــلا دومــره ډېــر
څه مې شــوګيرې څه مې خوبونه شي

ميــنې ميــنې زړونــه ويــنې ويــنې شــو
درنــګ لــه بــه د وينــو بارانونــه شــي

مــه منــه د بنکلــو تســلي ميــنې!
ورك دي د منکــــرو قســــمونه شــــي

يــه **صــابره** دي ســترګو تــه وګــوره
هېــر بــه دي جامونــه جنتونــه شــي.

❋ ❋ ❋



کــتابــتــون ډولــنــه (WWW.KITABTOON.COM)

○

څـوك چـې د مـينې د منظـره ووخـې
هغــــه د ژونـــد د ســـمندره ووځـــې

هغــه سـړى بــه د نظــره كـړي څـوك
هغـــه د هـــر چـــا د نظـــره ووځـــې
ســـتا د يـــادونو د دردونـــو څـــړيكې
پـــورې راپـــورې د ځيګـــره ووځـــې
خدايــه پــه هغــه زړه بــه څــه تېرېـږي
چـــې ببنـــوا د يـــار د دره ووځـــې
هغـه سـور اور يـې هغـه څړيكـه نـه وي
چـــې د مـــين زړه د پرهـــره ووځـــې
زمـــا خودســـره بـــاغي شـــوى نظـــر
د يـــار د ســـترګو د اثـــره ووځـــې

چـــې د خـــورو زلفـــو تيـــارې رڼـــوي
**صـــابره** اور بـــه دې د ســـره ووځـــې.



(WWW.KITABTOON.COM) كـتابـتـون ټـولـنـه

○

شــرابي ســـترګې ګلابـــي رنګونـــه
مـــا لېـــونی کـــړي لېـــوني رنګونـــه

ســـتا د جبـــين رڼـــا تـــه وپســـخېدل
د ښاپيســـــتونو د ســـــپرلي رنګونـــه

پـــه جنتونـــو مـــين څـــه پېژنـــي
ســـتا د كـــوڅې مـــازيګري رنګونـــه

د جانـــان ســـترګې د نظـــره مـــه شـــه
پـــه هـــر پرهـــر مـــې دوړوي رنګونـــه

خدايـــه لمـــن يـــې ترېنـــه داغ وانخلـــي
پـــه رڼـــو ســـترګو كـــې راوړي رنګونـــه



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

زمــا زخمونــه امــاني دردونــه
زمــا يادونــه تمــامي رنګونــه

د خــورو زلفــو ســيورى مــه خــوروه
د خوشــبويو نــه شــي خــالي رنګونــه

زه تــرې نــه چرې بــې نشــې نــه شــومه
زمــا ســاقي مــا لــه ســاتي رنګونــه

ســترګې مــې ووځــه خــو ونــه وينمــه
د خپــل جانــان پــه مــخ پــردي رنګونــه.

***



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د نازولي زړه مې ومنله
ګنې نو ما خو مینه نه منله

عقله اوس پرېږده چې تکرې خورمه
ما د مئين لېوني زړه منله

ستا شرابي سترګې چې اور لمبه وي
زما توبه به خلق څه منله

زما خبرې ته چا غوږ نه نیوو
هر سړي ستا خبره ومنله

که مېخانې ته دې راوستي وی څوک
سپرلیه ما به دې هله منله

یارانو تاسو ته ګناه نه شته دی
ما به پخپله د هغه منله

ما درته وې چې دروغژن وې بنکلي
**صابره** تا به زما نه منله.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# جواب

زه کله د الفت د مېکدو لېوني نه وم
زه کله د ښاېست د رنګينو لېوني نه وم
زه کله د الفت د عظمتونو نه منکر وم
زه کله د ښاېست د کمالونو نه منکر وم
ما کله په زخمونو کې سپرلي نه دي ستاېلي
ما کله پرهرونه په ازغو نه دي ګنډلي
ما کله د ګلونو د ياری نه توبه کړې
ما کله د رنګونو رڼا نه ده نغمه کړې
زما په برخه کله لېوني غمونه نه وو
زما په لمن کله د تهمت داغونه نه وو
زه کله باغي نه ومه خود سره مين نه وم
زه کله زما ګرانه د زړه سره مين نه وم
زه تل د محبت د عظمتونو ثنا خوان يم
زه ټول عمر په دې ګناه د ژبې اوېزان يم



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زه نـن هـم د پـرون غـونـدې پـه دې ګنـاه لـتـاړ يـم
زه نــن هــم د فتــوو د توپـو مخــې تـه ولاړ يــم
زه نـن هـم د سـپرلي هـره ښکـالو نغمـه کومـه
زه نــن هــم زنــدګي د محبـت پـه تـار ترمـه
زمـا زړه خـو هـم هغـه دی چـې تاتـه مـې ښودلی
زمـا لېونتـوب هغـه دی چـې تـا خپلـه لېدلی
خــو زه ددغــو تيولــو حــادثو ســره بلــد يــم
د څــان د ســوزېدو د تماشــو ســره بلــد يــم
مـا ټول عمر هم دا کړي دا اوس چې څه کومه
هـم دغسـې پخـوا ومـه دا اوس چـې څنګـه يمـه
زما ژوند خو هم هغسې بې سره لېونتوب دی
زما سترګو کې هغسې يو غنی غنی خوب دی
کــه تــه د نعمتونــو د تيــارو نــه يرېــدلې
کـه تـه ددې خبـرو دغـو خولـو نـه يرېـدلې
که دغـه بوږنـوونکې يـرې تـرهې دې پـه زړه وې
تراوسه ولې چوپ وې د زړه سره څه دې نه وې
اوس څه وشو چې داسې يرېدلې يې اوتـر يـې
مـا هـم يـرول غــواړې لېـونی يــې زوروريـې
زه څه وکـړم سـتا ومـنم د ژونـده لاس پـه سـر شـم
د ميـنې نـه توبـه کړمـه د ميـنې نـه منکـر شـم



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

نـه نـه زمـا نـه نـه کـبـرې دا نـه کـبـرې دا نـه شـي
زمـا لمـن دې چـرې پـه دروغـو پـاکـه نـه شـي
زمـا زړه دې د میـنې د عظمت پـه ګناه تـور يې
زمـا پـه نـوم دې دغسـې يـو سـل الزامـه نـور يې
تـه خـه ورخـه چـې تاتـه پـکې پـېـښـه نـوره نـه شـي
زمـــا پـــه الزامونـــو دې لمنـــه تـــوره نـــه شـــي
زمـــا مینـــه خـــود ســـره ده بـــاغي ده تـــاواني ده
زمـا ژونـد لا تـــردې ورخـــې بـــاهللي جـــواري ده.

❋ ❋ ❋

## بغاوت

د رواجونو د تیارو د یرې
د نیمې شپې د خاموشۍ په خلې
د دوو مینو سوري
لکه ګلونه ربي
تلي پیرونه ربي.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ټولې دنيا تـه مـې د يـو سـړي صفت کـړی دی
ما پـه يـو څو ورځو کې څومره محبت کړی دی

زه ددې ښـــار د نفرتونـــو د بُتـــانو دشـــمن
مـا پـه دې ښـار کـې د مينـو امامـت کـړی دی

ددې کوڅــو نــه صــبرېده زمــا د وســه نــه ده
ګـنې يـارانو راتـه هـر وخـت نصـيحت کـړی دی

مـا د هـر ګـوټ سـره د يـار د سترګو ذکـر کـړی
مــا د شــرابو پــه نشــه کــې عبــادت کــړی دی

هغـه چې زه يـې د ښاېسـت پـه صـفت نـه مړېږم
هغـه سړي زمـا پـه هرځای کې غيبت کـړی دی



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

زمـا رقيـب د محبـت پـه معنـى څـه پوهېـږي؟
هغـه خو ژوند هم پـه يـو لـوى منافقت كـړى دى

سـتا د يـادونو د سـپرلي ګلونـه نـه هېـروي
ګـني نـو مـا خپلـو زخمونـو تـه منـت كـړى دى

د مـلازو د ملامتـو يـي سـاتلى يمـه
زما احساس زما پـه هر خاى كـې عزت كـړى دى

د ډېـرو ښكلـو د ښاېسـت ثنـا دې وى **صـابره**
خو پـه غزل كـې دې د يـو سـړي صفت كـړى دى.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

مــا د ګلونــو د رنګونــو دلــداري کـــړې ده
مــا د ســپرلي د انتظــار ســره يــاري کـړې ده

مـا د خپـل زړه پـه رڼـا سـتوري د اسـمان رڼـول
زه کـه ذره وم مــا د لمــر ســره سـيالي کــړې ده
زمــا د زړه څـړيکې بـه دومـره بـې اثـره نـه وي
مـا د زخمونـو کرونـده پـه نـري سـوي کـړې ده
د جانــان ذکــر مــې پـه ژبـه د غــزل کــړی دی
د خپل ارمان قيصه مې تل په اسويلي کړې ده
مـوږ د دنيـا د بادشـاهانو بادشـاهی ړنـګ کـړې
خو يو سـړي زمـوږ پـه زړونـو بادشـاهي کړې ده
ماتــه ددې خلقــو د زړونــو د تيــارو پتــه ده
مـا ددې کلـي پـه کوڅـو کـې ملنګـي کـړې ده
زه يې د خپل وجود د خوږ په خوږو پوهه کړمه
پـه مـا ديـار سـترګو بـلا مهربـاني کـړې ده

تـه څـه خبـر يـې د زړه سـره تاتـه څـه پتـه ده؟
چې ستا **صابر** څومره په ګرانه شاعري کړې ده.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

د حسن په نشه کې لېونی مخې له راغی
په چا پسې چې تلم هغه سړی مخې له راغی

زه نه یم بختور خو دا د مینې معجزه ده
اشنا په پردې کلې کې د شپې مخې له راغی

نور هېڅ نه شته پوهېږمه قسم مې ماتوي
اشنا چې مې د زړه د دروازې مخې له راغی

د هغه غزل زادو سترګو رنګ مې ورله ورکړو
که ګل مخې له راغی، که سپرلی مخې له راغی

ستا حال یې راته ووی ستا قیصه یې راته وکړه
چې څوک ستا د پلو ستا د کوڅې مخې له راغی



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لګیا وو د خپل حسن په صفت نه مړېدو
زما غزل یې غلی غلی وی مخې له راغی

دا مینه ده ارمانه که د مینې مجبوري ده
زما د زړه قاتل ما له ژوندی مخې له راغی

په ډېره موده پس مې سترګې لړې شان خوږې شوې
په ډېره موده پس هغه سړی مخې له راغی

خادر د محبت یې په سر سوری وو روان وو
**صابر** د ژوند په لاره د غرمې مخې له راغی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بې کوره شي چې څوك په بې درکو پسې گرځي
درانه خلق سپکېږي چې په سپکو پسې گرځي

زما د قام د کومې بدبختۍ به درته وايم
چې څوك را زلمي کېږي په ټوپکو پسې گرځي

د زرکو د کوترو ښکار د نورو مشغله شوه
زما د غرونو باز په توت خورکو پسې گرځي

بیا څوك د پښتنو د اتفاق سندرې وايي
دیوان يې د خوشحال په لاس ختکو پسې گرځي

صلاح کوي جرگه کوي غونډ ېږي تندرونه
څوك جاله جوړوي ځانله په ډکو پسې گرځي

د هغه غرځنۍ غرۍ مې هغسې په زړه ده
لا هغسې مې فکر په کنجکو پسې گرځي

د ښکلو په سينو کې بې غرضه زړونه گوري
**صابر** بلا وهلی دی په ورکو پسې گرځي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# کابل

په دې ښار کې څه کمی دی
د ګلونو د رنګونو
د پستو نرمو بادونو
د ښاپست د نګهتونو
د قدرت د نعمتونو
نه په دې کې څو مثال دی
نه په حسن کې څو سیال دی
د سپرلي د بوډۍ تال دی
د ښاپست د اور مشال دی
بیا په ده کې څه کمی دی
بیا یې څه بدنصیبی دی
بې ورېځو بې اوبو دی
بې بارانه بې چینو دی
بې ناموسه بې پښتو دی
بې داستانه بې قیصو دی



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نه دده خو زر داستانه

نه دده خو سل قیصې دي

دده سل رنګه وریخې

دده سل قسمه چینې دي

بیا په ده کې څه کمی دی

بیا یې څه بدنصیبی دی

ژبه نه لري ګونګی دی

احساس نه لري لړګی دی

وجود نه لري پیری دی

تاریخ نه لري څه شی دی

نه نه ژبه یې ګویا ده

د وینا سره اشنا ده

نه وجود خو یې غمی دی

نه احساس خو یې سپرلی دی

په تاریخ کې یې لوی زور دی

د ویدي سندرو شور دی

د زرتشت د فکر اور دی

د ملالې د پلار کور دی

بیا په ده کې څه کمی دی

بیا یې څه بدنصیبی دی



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

چې مین ترې نه خفه دي
ښښتانه ورته غصه دي
په بلا بدو یې ستایي
چې خوله پرانېزي نو وایي:

یار د کابل زه د تیراه یم

کابل دې وران شي چې جوړه تیرله له ځونه

## د سرفراز محمود په مړینې

د کوهــاټ غرونـــه د هیبتـــه ړېـــي
آســماني تنـــدر پـــه خیبـــر پرېوتـــو
د صـــحرا کـــانې بـــوتي وژړېـــدل
د لېونـــو د ږلـــې ســـر پرېوتـــو

## د امان الحق په قبر

پـــه دې قبـــر کـــې دننـــه
د ژونـــدو ســـترګو نظـــر دی
دې لپـــه خـــاوره لاتـــدې
پـــروت د مینـــې ســـمندر دی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پـه چمـن کـې کـه ګلونـه کـه ازغـي مـري
خو زما د کور ښاپست زما سپرلي مري

دا مـې لويـه بـدبختي نـه ده نـو څـه ده
په پردي جنګ کې زما د ښې زمري مري
د دنيـا روزګـار پـه صلح پـه صلاح شـي
کوم قامونه چې د جنګ په لوري ځي مري
د دنيـــا اولســـه هلـــه کـــه رادو کـــړې
سړي يو بل سره تغښتـي دي سړي مـري
مـوږ نـه هغـو خلقـو بلـي لمبـې تـاو کـړې
چې په خپله په پوتي غوندې لوګي مري
د خوشـــال پـــه اديـــره بـــه مـــاتم نـــه وي
ســـره بخـــري د ايمـــل د انغـــري مـــري

د اســــلام د ســــپېڅلتيا مبلغينـــــو
پـه کابـل کـې درنـه شـتـه مسـلماني مـري.



(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

زمـــا د زړه د خوږېـــدو رازونـــه مـــه لټـــوه
اور بـه درپـوري شـي اشـنا اورونـه مـه لټـوه

د خپلو سترګو د ظلمونو به دې کرکه وشي
مـه كـوه مـه! زمـا د زړه زخمونـه مـه لټـوه
زمـا بـې سـره شـوګيرې درپـورې ونـه نښلي
زمـا پـه سـترګو كـې زمـا خوبونـه مـه لټـوه
ارمانه مه كوه د ښكلو زړونه ډېر خيرن دي
ښكلو تـه ګـوره خـو د ښكلـو زړونـه مه لټوه
په دې سرونو كې به سر وخوري د عقل رڼا
دا د وهمونـــو د تيـــارو غارونـــه مـــه لټـــوه
ميني رښتيا مه وايه مه كوه ستومانه به شې
ځان لـه زمـا غونـدې پـه زور غمونـه مه لټوه

پـه دې كوڅـو كـې د الفت بادونـه نـه الـوزي
**صـابره**! دلتــه د الفــت رنګونــه مــه لټــوه.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د محبت رازونه پټ ساتمه
په زړه د زړه دردونه پټ ساتمه

نور د يارانو زړونه نه يخوم
نور به د زړه زخمونه پټ ساتمه

په دې بې لوظه موسم څه اعتبار
ستا د وعدو ګلونه پټ ساتمه

د پرهرونو خولې مې وتړلې
نور د جانان يادونه پټ ساتمه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د دیوالونــو نــه مــې یــره کېــږي
ســتا د راتلــو وختونــه پــټ ســاتمه

دلتــه د غــم ژبــه څــوك نــه پېژنــي
دلتــه کــې خپــل غمونــه پــټ ســاتمه

د څکو خو څه وايي چې څه کفر دی
زه دلتــه تــش جامونــه پــټ ســاتمه

د ملامتـــــو د فتــــوو د یــــرې
پــه ســر کــې د هــر ســوالونه پــټ ســاتمه

د خلقــو خــولې خــو تاتــه ښــه پتــه ده
**صــابره** ســتا خطونــه پــټ ســاتمه.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د محبــت د لېونــو پــه ژبــه نــه پوهېــږي
ستا د ښار خلق د سرو په ژبه نه پوهېږي

چا چې د کلي مازیګر سندره کړې نه وي
هغــه د بــام د اشــارو پــه ژبــه نــه پوهېــږي
زمــا د زړه دردونــه دومــره بــې دلیلــه نــه دي
چې ستا د سترګو د ښو په ژبه نه پوهېږي
د زړه تنهــاکې مــې پــه داســې ښــو وخیــرلې
چــې د تنهــاکو د چــاودو پــه ژبــه نــه پوهېــږي
هغــه د خپــل ظــالم نظــر د زوره نــه دی خبــر
هغــه زمــا د اســوېلو پــه ژبــه نــه پوهېــږي
هغه بې لوظه بې ښتــو هغــه بې خوږو سرې
هغــه د مینــې د ښتــو پــه ژبــه نــه پوهېــږي

مینه خود سره وي ***صابره*** خپله خوښــه کــوي
د مصــلحت د فلســفو پــه ژبــه نــه پوهېــږي.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د ښاپېــــتونو د ســپرلي بــاد تــه ګلونــه کــرو
پخپلــو زړونــو کــې د مینــې ارمانونــه کــرو

ســتا د ښېــو ســرونه هغســـې پــه زړه ګرځــوو
مــوږ د ځیګـر پـه زمکـه هغســې زخمونـه کـرو

د وخـت قاضـي دې پـرې څـه نـوې فتـوی ولګـوي
موږ پـه دې خـاوره نـوی خیـال نـوي فکرونه کرو

زمــوږ خودســره منصــورخېلو نســل نــه ورکېــږي
مــوږ د دارونــو پــه ســرونو کــې ســرونه کــرو

مــوږ د نفــرت د توپــانونو پــروا نــه ده کــړې
مــوږه د زمکــې پــه ســینه کــې الفتونــه کــرو

دردونو لړه غوندې ساه واخلئ چې ساه واخلمه
زه او مابنــام زمــا پــه زړه د چــا یادونــه کــرو

د هغــه حســن د ســپرلي یــاد بــه ســاتو **صـابره**
پــه پرهرونــو کــې ګلونــه کــه رنګونــه کــرو.



کــتابــتــون ټــولــنــه (WWW.KITABTOON.COM)

ستا لېونی یم انتظار مې کوه در بـه شمه
زه لاژوندی یم انتظار مې کوه در به شمه

دلته پردی ښار، د پردو خلقو د نه زړه کلی
دلتـه پردی یم انتظار مې کوه در به شمه

لاخو زما په زړه کې مینه زړه شوې نه ده
لاخو زلمی یم انتظار مې کوه در به شمه

ستا د وعدې سوری تر دې وختـه په سر ګرځوم
کلك د وعدې یم انتظار مې کوه در به شمه

چې ستا کوڅه یې همېشه د ژوند جنت ګڼلي
هغه سړی یم انتظار مې کوه در به شمه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د تـورو غرونـو سـپېلنو واورو نـه پنـاه لالیـه
ستـا لېـونی یـم انتظـار مـې کـوه در بـه شـمه

د جانان یاده ته ورخه د جانان خوا کې اوسه
زه درېســې یــم انتظـار مــې کـوه در بـه شـمه

ستا د یادونو سیلۍ واخیستمه در یې ورمه
بس درنـزدې یـم انتظـار مـې کـوه در بـه شمه

د پردي ښار مسافری مې صبر خوري **صابره**
پـه زړه نـری یـم انتظـار مـې کـوه در بـه شـمه.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# پوښتنه

د هغــه کلــي نــه راغلــی مېلمــه
وايــه د هغــه کلــي حــال څنګــه دی؟
چې څــه بــدلون پکــې راغلــی کــه نــه
د خلقــو فکــر څنګــه خيــال څنګــه دی؟

***

اوس هم د هغــه ځای ليکــوال شــاعران
د افســــرانو قصــــيدې وايــــي
اوس هــم د هغــه ځــای خانــان ملکــان
ځــان درنــوي خــپلې درنــې وايــي.

***

اوس هــم د هغــه ځــای غريــب دلــه دی
پــه تــوك ډوډۍ پــردۍ حجــرې ســاتي
پــه شاباســي بانــدې مرګــونــه کــوي
شــان د خانــانو د شــملې ســاتي.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

* * *

مجرمان اوس هم سپين سپېڅلي ګرځي
افســران اوس هــم رشــوتونه اخلــي
ســمګلران اوس هــم د نوټونــو پــه زور
د چــا ايمــان د چــا ســرونه اخلــي.

* * *

د هغــه کلــي نــه راغلــی مېلمــه
وايــه د هغــه کلــي حــال څنګــه دی.

* * *

هلتــه کــې اوس هــم د عاشق زنــدګي
پــه غــم لړلــو اســوېلو کېــږي
اوس هــم د ميــنې د مــين زنــدګي
پــه فريــادونو پــه زبيرګــو کېــږي.

* * *

اوس هــم د هغــه ځــای د بنګلــو فرقــه
د عشــقه بــود غــواړي بهبــود غــواړي
د مينــانو نــه خــه بــوده کــوي
د محبــت د ســره ســود غــواړي

* * *

د هغــه کلــي نــه راغلــی مېلمــه
وايــه زمــا د لالــي حــال څنګــه دی؟

* * *



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چرته په لاړ کوڅه کې ښکاري که نه؟
څوك يې په ښه بده کې ستايي که نه؟
زما غزلې خو تري هېري نه دي
د خپل ښاپست سندرې وايي که نه؟

* * *

رښتيا! زما هغه ياران ښنگه دي؟
د محبت په لاره سم دي که نه
د غېرت اور خو يې مړ شوی نه دی
په مينه هغسې محکم دي که نه.

* * *

د هغه کلي نه راغلي مېلمه
وايه د هغه کلي حال ښنگه دی
چې څه بدلون پکې راغلي که نه
زما خواري خو اوبو وړې نه ده
زما محنت څه ځای نيولی که نه.

* * *

هغه تودې جذبې سړې خو نه دي
ما بلې کړې ډيوې مړې خو نه دي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# ژوند

د رڼا او د رنګونو
د ورېمو او د ګلونو
د نغمو او د سندرو
د خوږو خوږو خبرو
ټول خواږه دښمنان يو شو
لوی واړه قاتلان يو شو
د سندرو اور يې مړ کړو
د رنګونو ښار يې اوسو
د ښاپست بازار يې اوسو
د نغمو ساه يې خفه کړه
د احساس شمع يې مړه کړه
نمر يې پټ کړو په تيارو کې
ګل يې ونغښت په اېرو کې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سوز يې وير ساز يې ژړا کړو
ژوند يې خاورې د صحرا کړو
د ادم رباب يې مات کړو
د درخو کور يې ميرات کړو
د شعور ائين يې خړ کړو
د احساس مجنون يې مړ کړو
په خپل خيال يې ځان محکم کړو
خپل يو بل دښمن يې کم کړو
خو د دوی بده بلا ده
هره تهمتنه يې خطا ده
چې د ژوند سازونه، نه مري
د احساس رنګونه، نه مري
مينه نه مري ښکلا نه مري
نغمه نه مري رڼا نه مري
هغه دوی چې رنځولي
هغه دوی چې خوك وژلي
هغه هغسې ژوندي دي
زه خبر يم په خبره



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کله وینم په چترال کې
کله به اورم د خیبره
د خپل فکر درخو ستايي
د نغمو په ژبه وايي
زه ژوندی یمه زه نه مرم
زه خو ژوند یم زه به څه مرم
دښمنانو ته مې وايه
بدخواهانو ته مې وايه
چې لړ اور په زخم ږدمه
نو درتلونکی یم درخمه
دا خبره زړو مه
دا خبره سپینومه
چې مړه څوك دي ژوندي څوك دي؟
لېوان څوك دي سړي څوك دي؟
دې حساب ته به خان نیسي
که څوك مري که پاتې کېږي
بیا دهر چا لاس آزاد دی
بیا به ګورو چې څه کېږي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

خپل پرهرونه کړو ډیوې خلقو
راځئ چې سترګې کړو خوږې خلقو

ورکې کړئ خپلې مجبورۍ ورکې کړئ
ماتې کړئ خپلې زولنې خلقو
ما ستاسو مینه ستاسو پت پاللی
ما دنیا پېژنې په دې خلقو
ما د سندرو په تار وېیلې
ستاسو د ژوند خوږې قیصې خلقو
زه د فتوو په دهند کې نه پټېدم
زما خبرې پېژندې خلقو
څه چې وم ستاسو د نظره ومه
څه چې مې وی ستاسو مې وی خلقو

مه کوئ ما او جانان مه بېلوئ
د یار د کلي د کوڅې خلقو.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

چې ایمان مې په ښابست دی چې یقین مې په سپرلي دی
د چمن غم زما غم دی که په ګل که په ازغي دی

د سپرلي تمه ګواه ده چې زما د پرهر فکر
د ازغو په څوکو اوسي د ګلونو ارماني دی

د دنیا بلاغریب دی ددنیا بلا مفلس دی
که ددې ښار محتسب دی که په دې ښار کې ساقي دی

څه ناشوني حادثه ده څه نادره المیه ده
زما ژبه د رندانو، اوریدونکی مې ولي دی

په ځان هغسې بې وسه، په زور هغسې غاوره
انسان هغسې نیمګړی انسان هغسې وحشي دی

که تا نه اورمه کیږم که ځان نه وینم ورکیږم
اتفاق مې مجبوري ده اختلاف مې فطرتي دی

د رڼا په تار ترلی د قامت په صلیب ځړېدلی
**صابر** هغسې سرکش دی صابر هغسې باغي دی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

څـه ګلونـه پـه شيشـو کـې څـه ګلونـه د شيشـو وي
ننني ښکلـي مخونـه، ښاپسـتونه د شيشـو دي

ننني زخمونـه څـه دي، ننني دردونـه څـه دي
تصويرونه پـه شيشـو کـې، تصويرونه د شيشـو دي

څوك د هر چا سره ژاړي، څوك پـه هر چا پوري خاندي
د چا سترګي شوي د کاڼو، د چا زړونه د شيشـو دي

نه ترې يو خوا څوك پټېږي، نه ترې بل خوا پټېدی شي
د نيتونـو ديوالونـه، ديوالونـه د شيشـو دي

د جونګړو ډيوې هسـې پـه جونګړو کـې زړې شوې
د يـارانو ارمانونـه، محلونـه د شيشـو دي

خاموشـي پکـې ډېره دي، ويرانـې پکـې اوسـېږي
کـه کورونه دي د خـاورو، کـه کورونـه د شيشـو دي

ددې ښار غوښې رګونه، ددې ښار خوږمنې سترګې
سـړکونه د تـارکولو، دکانونـه د شيشـو دي.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

که غـزل مــې ورتــه ووې کــه رنـا مــې ورتــه ووې
خپل ایمان مې ورته ووې خپله ساه مې ورته ووې

تورې سترګې په خندا شوه خورې زلفې په شاه لاړه
چې ښېګاه مې خواله راغله چې ښېګاه مې ورته ووې

خپل نصیب ته فکر یوړم خپلې برخې ته حېران شوم
چې اشنا یې راتـه ووی چې اشـنا مـې ورتـه ووې

اوس یـو بـل تـه کتـی نشـو اوس د یـو بلـه شـرمېږو
چې ربښتیا یې راته ووې چې ربښتیا مې ورته ووې

څه کچه شوه څه خفه شوه مخ یې واړوو غصه شوه
چې وعده مې کړه وریاده، بې وفا مې ورته ووې

د یـوې لارې پښتـون یـم، پـه یـوه ژبـه پوهېـږم
چې تپوس یې رانه وکړو، د زړه غلا مې ورته ووې

یار مغل ؤو پښتون نه شو، زه پښتون وم مغل نه شوم
د دنیـا یـې راتـه ووې، د دنیـا مـې ورتـه ووې.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د ګلونـــو د ښـــار خلــق، د رنګونــــو د ښـــار خلــق
په خيـالونو کې مې اوسي، د خيـالونو د ښار خلق

په رګونو کې مې ګرځي په زخمونو کې مې اوسي
د ارمـــان د بـــن ګلونـــه، د يـــادونو د ښـــار خلــق
پـه مـا هغـه ورځ اختــر وي، زمــا هغـه خوشـالي وي
چــې پـه ويښـه چرتـه وينـم د خوبونــو د ښـار خلـق
زه چې ستا کوڅې له راشم زه چې ستا دېوال ته کښېنم
پـه بتکــو پـورې ولاړ وي پـه پـارونو د ښــار خلــق
لېــوني تنـدې اخيســـتي، لېـــوني لېـــوني ګرځـــي
د اوبــو د کلـــي خلـــق د ســـيندونو د ښـــار خلــق
د آسـمان پـه تمـه ناسـتو د اسـمانه تمـه پـرې کـړئ
د اســـمان تمـــې وژلـــي پــه کلونـــو د ښــار خلــق
دې بـې نومـه خاموشـۍ لـه نومـوړي غـم پکـار دی
چـې بـې خـوده لېـوني شـي د غمونـو د ښـار خلق

د دردونــــو نـــاخبره د **صـــابره** څـــه خبـــر دي
د صـــابر پـــه زړه پوهېـــږي، د دردونـــو د ښـــار خلــق.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

○

د احتساب د سر نشه ماتوم
په تنده نه یم خو توبه ماتوم

د انتظار د خاطر صبر تمام
سر د جانان په دروازه ماتوم
د مجبورۍ هره سودا خوروم
د بې وسۍ هره پنجره ماتوم
تاته یې یو څه ماته بل څه ووې
دا دروغژنه آئینه ماتوم
د محبت د ارمان هره تنده
ستا د قامت په تاتره ماتوم
وربخي راغلي مېخاني ته څمه
خدایه! توبه مي ده توبه ماتوم

ساقي په سترګو کې نشه راکوه
پیاله دي سر وخوري پیاله ماتوم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د انتظـــار جذبـــه ســـره بنـــه نـــه ده
د پرهــر ځريکــه مــې اوده بنـــه نـه ده

د غـرمې تـاو بنـه نـه دى تـوره بـه شـي
د غـــرمې مــه راځــه غرمــه بنــه نــه ده
واعظــه مــه كــوه ســتومانه بــه شــم
د ځوانـــى ورځــې دي توبــه بنــه نــه ده
د تـــور اوربـــل تـــوره مـــا مـــه يـــروه
زه كلـه روږغ ومـه كـه شـپه بنـه نـه ده
د محبـــت لېـــوني چـــا وژلـــي
د اشـــنا هســـې حوصـــله بنـــه نـــه ده
شـونډې دې رېـې چـې خبـرې كـوې
قاصده بنكاري چې قيصه بنه نه ده
د سـبا سـتوري تـه خـه ونـه وايـې
بلــه ډيــوه بلــه لمبــه بنــه نــه ده

نــن بـه دې زړه خــان ســره وړي **صـابره**
نــن يــې د ســترګو اراده بنــه نــه ده.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

د ژونـــد آهـــنګ د ژونـــد نغمـــه بـــدلوي
حـــالات بـــــدلېږي زمانـــــه بـــــدلوي

څوك چې په ژوند کې څه بدلون غواړي
اول بـــــه خپلـــــه رويـــــه بـــــدلوي
هـر څـوك د خپـل ساقي د نومـه سترِي
هـــر ســـړی خپلـــه مېخانـــه بـــدلوي
اوس خـــو تيـــارې هـــم د رڼـــا د يـــرې
هــــره شـــپه نـــوې لوپتـــه بـــدلوي
وخـت چـې بـدل شـي نظريـه نـوې شـي
ژونـــد چـــې بـــدلېږي فلســـفه بـــدلوي
پـــه يـــوه منـــده بدلېـــدونکې دنيـــا
د زندګــــــی هـــــره رشـــــته بـــــدلوي
مـوږ لا پـه زمکـه د شـپې خـای نـه مومو
خلـق سـپوږمی تـه ځـي نشـه بـدلوي

جانـــان يـــې هغـــه، انتظـــار يـــې هغـــه
**صـــابر** د مينـــې طريقـــه بـــدلوي.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

پــه پرهرونــو کــې ســپرلي ســاتمه
ژونــدي غمونــه دې ژونــدي ســاتمه

زه بــې پــروا یــم خــو پــروا مــه کــوه
د ګــودر لاره بــه ســهي ســاتمه
خان مې پرې اوسو تا پرې نه سېزمه
پــه زړه دننــه اســویلي ســاتمه
ســتا د راتلــو پــورې بــه صــبر کــوم
ســتا د وعــدې ســره یــاري ســاتمه
نور مې په دې کلي کې څه پاتې دي
هغــه کوڅــه هغــه بتکــي ســاتمه
د ارمــانونو د ســپرلي پــه تمــه
شــپلونه خارمــه ازغــي ســاتمه

د محتســب د نیتــه وویرېــدم
نــور بــه پــه سترګو کې ساقي ساتمه.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

دلتــه امکــان دی د ســپرلي د ســحر
دلتــه اســتازی څــي راخــي د ســحر

خدای خبر ته او سپرلي څه د يو بل
ســتا لېــونی شــو لېــونی د ســحر
پــه هغــو زلفــو کــې خويونــه اوده
پـه هغـو سترګو کـې مستي د سحر
د انتظـــار د شـــپې تمامـــه دنيـــا
شــوګيرې ســترګې اســويلي د ســحر
ستا د بنا پست د سپرلي ذکـر کـوي
څــوك پــه دې لار ګلونــه وړي د ســحر
د شــپې غمونــه پکــې نــه پتېــږي
د زړه زخمونــه چــې ورځــي د ســحر

تننــی شــپه يــې د **صابر** ســره وه
خدايـه! چې څنګـه به پاسي د سحر.



کـتـابـتـون ډېـوټـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ګـران دي پـه ګرانـه لاره تلـه د شـعور
خو بې خوارۍ نـه شي خوارېږه د شعور

زمـا يـارانو پـه مـا زړه مـه سـېزئ
مـا سـره هغسـې ډبـر شـته د شـعور

زه يـې د خـان پـه معنـى پوهـه کړمـه
مـا سـره بـس دى دومـره بنـه د شـعور

مـا پـه هـيڅ هسـې يقـين نـه دى کـړى
مـا پـه شـك وخـوارېږه خـوارېږه د شـعور

د حيرانـــى خبـــره ده او کـــه نـــه
پـــه دې ازغنـــو لارو تلـــه د شـــعور

مـا پـه دې خـاوره هسـې زړه نـه تـړه
مـا پـه کې څـه نـه څـه ليـده د شـعور

د نـن پـه سـترګو کـې مسـتي د سـبا
د ژوند د نن په مخ کې سره د شعور.



(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون ټـولـنـه

○

هــم تــه او هــم دې تلوســه رنګینــه
ســتا د نــوم هــره تماشــه رنګینــه

د حســـن هـــره تماشـــه د لیـــدو
د میـــنې هـــره حادثـــه رنګینـــه
پــه هغــو زلفــو ماښامونــه آبــاد
پــه هغــو سترګو مېخانــه رنګینــه
اوس په هغې کوځه سپرلي څه کوي
هغــه خــو ســتا ترســره وه رنګینــه
پــه مــا د میــنې محفلونــه آبــاد
پــه تــا د ښــار هــره کوڅــه رنګینــه
چــې پــه رنګینــو تماشــو واوړمــه
ســـاقي راواړوه نشـــه رنګینـــه
ســتا د خــورو زلفــو پــه لویــه ســودا
زمـــا د عمـــر سلســـله رنګینـــه

عقـــل پـــه نـــوې تماشـــا اړوم
ښنمه پرې ستا د خیال نشه رنګیـه.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

رنګونــــه پېـــژنم رنـــا پېــــژنم
محبـــت پېـــژنم بنګـــلا پېــژنم

تـه مـې سـودا تـه مـې دنيـا د مينـې
خپلــه ســودا خپلــه دنيــا پېــژنم
ماتــه د نــور نصـيحت څـه ضـرورت
زه مينـــه پېـــژنم، اشـــنا پېـــژنم
د خـــورو زلفـــو هســـې نـــه بوربنېـــږم
بـــلا دې واخلمـــه بـــلا پېـــژنم
مــه کــوه مــخ پــه پلــو مــه پټــوه
ښـه خـو مـې پېـژنې چـې تـا پېـژنم
دا دې دروغ ووې چـې يـاد مـې نـه دې
يـــه دروغژنـــه! زه رشـــتيا پېـــژنم

غـم خـو مـې دا دی چـې ګنـاه نـه کـوم
غضـب خـو دا دی چـې ګنـاه پېـژنم.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

نـور مـې د سترګو خوږېدو څوك دي
زمــا بغېــر ســـتا د بنـو څـــوك دي

زمــا د زړه پــه اور کــې زه دېـره يــم
پـــه مـــا د زړه د ســـوزېدو څـــوك دي
زمـوږ د شـپې شـوګيرې هسې عـادت
ګـــنې زمـــوږه د راتلـــو څـــوك دي
دلته کې هر سړی څپل غم اخيستی
دلتـــه د بـــل د غـــم د وړو څـــوك دي
لاڅـــو دي نـــه کېـــږي بـــاران د ميـــو
لا د نشـې څـوك دي د څښـو څـوك دي
د منـــزل نښـــې تـــه بـــه څـــوك ورســـي
پـــه ګرانـــو غرونـــو د ختـــو څـــوك دي

***صـــابره*** مـــوږ د ژونـــده څـــه خبـــر يـــو
مـوږ تـه ددې کتـاب لوسـتو څـوك دي.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د يـو بلـه خبـر يـو د يـو بـل پـه زړه پوهېــږو
خو يـو بـل تـه كتـي نـه شـو د يـو بلـه شـرمېږو

په بل هنر په بله دعـا خداى خبر كـه روغ شـو
د مينـې پـه اور سـوي يـو پـه مينـه بـه رغېـږو
رقيــب سـره بـه ګــورو د رقيــب خبــره نــه ده
پـه مينــه كــې د ميــنې د يــارانو نــه يرېــږو
دنيـــا راتـــه ولاړه وي دنيـــا راتـــه پســـخېږي
چې زه او هغه ناست يو سره خپلو كـې ګړېږو
زمـــوږ د بيلېـــدو نظـــاره هـــم د تماشـــو وي
ودرېـــږو، روانېـــږو، خـــو ودرېـــږو روانېـــږو
د سترګو دا يوه نيكي دې ډېره ده لـوګى شـم
پنـاه راكـړي چـې كلــه د حــالاتو نــه پتېــږو

• **صـابـر** تــه د تــوبې خبــره مــه كــوه ناصــحه
په مينه كې پښتو كوو كه مرو كه پاتې كېږو.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# لوبه

د تنکی مینې تنکي زخمونه
په زړه مې بل دي سره انګارونه

د تنکی مینې خوږې خبرې
لکه غزلې لکه سندرې

ګله اورونه ګله ګلونه
په زړه مې بل دي سره انګارونه

په هر پرهر کې د لمبو شور دی
د هر يو زخم په خوله کې اور دی

نه مې ارام شته نه مې خوبونه
په زړه مې بل دي سره انګارونه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نــه مــې ارام شــته نــه ارام غــوارم
څــوك يادومــه ځــان ســره ژارم

دغــه مــې ژونــد دى دغــه وختونــه
پــه زړه مــې بــل دي ســره انګارونــه

دغــه مــې ژونــد دى دغســې يمــه
پـــه تصــور كـــې راتولومــــه

د خـــورو زلفـــو خـــواره تارونـــه
پــه زړه مــې بــل دي ســره انګارونــه

د خـــورو زلفـــو پــه تــار يـــې پېـــرم
يـوازې ناست يم ځان سره شمېرم

د پرهـــر خـــړيكې د زړه زخمونـــه
پــه زړه مــې بــل دي ســره انګارونــه.



كــتـابــتـون ټـولـنــه (WWW.KITABTOON.COM)

○

مانـــه زمـــا د زړه رضـــا اخلـــي
زمـا خــوږمن زمـا نــه ساه اخلـي

هـر څـوك زمـا پـه زړه كـې تـا لتـوي
هـر څــوك زمـا د ژونـده تـا اخلـي

ستا پـه نوم ستا پـه محبت مـې وژنـي
زمـــا قاتـــل زمـــا دعـــا اخلـــي

ارمـان مـې څـي چرتـه صـحرا لتـوي
لېـوني كلـى پرېـږدي تـا اخلـي

دغـه يـوه مينـه مـې ټولـه دنيـا
دنيـــا ظالمـــه رانـــه دا اخلـــي



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

تــا رانــه ولــې ببلــوي وختونــه
ازار مــې ولــې خامخــا اخلــي

د زړه د حالــه يــې دنيــا خبــر وي
د ګــل پرهــر د ګــل حيــا اخلــي

دلتــه خــو دا هــم غنيمــت وګڼــه
چــې يــاران سـر خــوزوي ســاه اخلي

چرتـه چـې څـوك د مينـې ذكـر كـوي
صــابره! نــوم پکــې زمــا اخلــي.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

د یـــار د مخـــه یرېـــده شـــرمېده
زړه مې پښتون و درزېده شرمېده

زمـــا د زړه درزا یـــې وېېژنـــده
وړوکـــی نـــه و پوهېـــده شـــرمېده

نـن یې د خپله ظلمه کرکه وشوه
زمـا زخمونـه یـې کاتـه شـرمېده

مخـې لـه راغـی مخـامخ ودرېـده
نـه اورېـده نـه ستنېده شـرمېده

اشـنا د خـپلې بـې لوظـی د یـرې
زمـــا د ســـترګو پتېـــده شـــرمېده

سترګو دې داسې اثري غوندې کـه
زړه مــې د ځانــه یرېــده شــرمېده.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د ګل په رنګ د پرهر خوله ترمه
د لبونی په وعده زړه ترمه

په څرېکو پيرم د پرهر ګلونه
د اسوېلو په تار يې نه ترمه
د زړه رګونو له تاوونه ورکېږم
ستا د غم غرونه پکې وترمه
د بلې هري بلا څخه خلاصوم
په غاړه ستا د سر وينښته ترمه
د کوم کوم ياده به دې زړه صبروم
سترګې په کوم کوم خای کې وترمه
څه په کچه رنګونو تېر وتمه
څه په بې لوظه سترګو زړه ترمه
کمڅی يې وسپېړدې موسکی شوه وې وی
نن به دې وړنم چې دې وترمه

ستا د سودا مزی مې هم وشلوو
اوس به د ژوند ګرېوان په څه ترمه.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

دومــره بــې مخــه بــې نــوا هــم نــه وم
چــې د ســاقي ســره آشــنا هــم نــه وم

ســتا د خــورو زلفــو د زور بــه نــه وم
خـــو د حـــالاتو د خنـــدا هـــم نـــه وم
ستـا د قامـت د صـليب سـوری خـو و
داسـې بـې يـاره بـې اشـنا هـم نـه وم
چـې سـتا يـو قهـر بـه د کـاره وېستم
داسـې آسـان داسـې وېـريـا هـم نـه وم
ستا نه که ببل وم ستا په زړه کـې ومـه
سـتا نـه جـدا وم خـو جـدا هـم نـه وم
ســتا پــه رنـو سـترګو تېروتـې ومــه
خو داسې بنکـاري چـې خطا هم نـه وم

چـې سـتا د يـاد ډيـوه مـې هـم وژلـه
غـم تـه دي دومـره وارخطـا هـم نـه وم.



کـتابـتـون ډولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

یا به نظر یا به لېمه بلوم
مخ ته دې بله ډیوه نه بلوم

ننن د ارمان په ځلي شپه تېروم
نن د یادونو شمعې نبه بلوم
ستا د خورو زلفو تارونه شمارم
د خپل وجود هره ذره بلوم
په هره لاره د چا پلونه څارم
په هر قدم د زړه ډیوه بلوم
د محبت د خاطر بله شمع
د مېخانې په دروازه بلوم
وریځې تورې شوې تیاره جوړه شوه
د جانان سترګو ته لېمه بلوم

باران وربږي انتظار دی شپه ده
په ډیوه څه باور دی زړه بلوم.



کتابتون ډولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

کــاواك کـــاواك اوتـــر اوتـــر ښکـــارم
ســـتا د رڼـــو ســـترګو نظـــر ښکـــارم

خبـــــره اوس د پټولـــــو نـــــه ده
ستا پـه کوڅـه کـې لکـه لمر ښکـارم
خپلـو همزولـو تـه پـه خپـل کلـي کـې
ستاســـو د کلـــي مســـافر ښکـــارم
ســـتا د بڼـــو بـــلا وهلـــې يمـــه
تـــوتې تـــوتې پرهـــر پرهـــر ښکـــارم
ستـا د قامـت سـيورې پـه سـر ګرځـوم
د بلـــې ميـــنې لاس پـــه ســـر ښکـــارم
ســـتا د نظـــر د جهالتـــه توبـــه
زه ورتـــه هغســـې کـــافر ښکـــارم

پـه ژونـد مـې هغسـې لښکـرې کـوي
مغـــل تـــه هغســـې خيبـــر ښکـــارم.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# ســوال

کــه د خــوب لیــده رښتیــا وي
زمــا هــر خــوب دي دروغ شــي

مــا د تــورې شــپې پــه زلفــو
څــه بــلا خوبونــه ولیــد

مــا ددې دنیــا دمخــه
د دنیــا خوبونــه ولیــد

خــو! پــه یــو خــوب کــې تــه نــه وې
لکــه هېــڅ چــې زمــا نــه وې



کــتابــتــون ټــولــنــه (WWW.KITABTOON.COM)

مـــا پـــه چغـــو چغـــو ووې
کـــه زمـــا خوبونـــه دا وي

زمـــا هـــر خـــوب دې دروغ شـــي
کـــه د خـــوب لیـــده ربنتیـــا وي

چـې پـه کـوم خـوب کـې تـا ویـنم
هغـــه خـــوب دې رالـــه راشـــي

کـــه خوبونـــه ربنتیـــا کېـــږي
هغـــه خـــوب دې پـــه ربنتیـــا شـــي.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# د هر خوب سود مې په تا دی

پــــه زولنـــــو پرهرونـــــو
کـــه د هـــر ګـــل پهـــی ږدمـــه
کـــه پـــه هـــره مېخانـــه يـم
کـــه د هـــره جامـــه ځښمـــه
کـه د هـر ښکلـي پـه غېـږ کـې
لکـــه سـور ستـار غږېـــږم
لکـــه مستـــه نغمـــه رېـــم
لکـــه نـــوی تـــار تنېـــږم
کـــه د هـــر ازغـــي زارېـــږم
کـه د هـر ګل خـوا کـې ناست يم
کـه د چـا پـه بنـو خـوږ يـم
کـه د چـا پـه لبچـو ملاسـت يـم
خـو د زړه ســود مـي پـه تــا دی
د ارمــان نظــر مــې ســتا دی
د هــر خيــال خــاطر مــې تــه يـې
د هـر خـوب سـود مـې پـه تـا دی.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

ز ه دي زما په رضا وترلم
په خورو زلفو چې تا وترلم

په ما بلا مهربانۍ د ښکلو
چا لبوني کړمه چا وترلم
د کلي خلقو خو په کاڼو ويشتم
ستا لېوني ومه تا وترلم
چې خوزېدمه خلقو وليدمه
چې پاڅېدمه دنيا وترلم
نن دي په کومه ګناه ونيومه
نن دي په کومه خطا وترلم
سترګو دي څنګه بنه په نخښنه کړمه
خان ته يې څنګه رسا وترلم

هر دار له خپلي خوږي ميني بوتلم
هر غم ته خپلي وفا وترلم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ګلونـــه پېـــژنم ســـپرلی پېـــژنم
د يـــار د کلـــي هـــر ســـړی پېـــژنم

هـر مـازيګر مـې ستا پـه نـوم ليکلی
هـــره ذره ســـتا د کـــوڅې پېـــژنم

مـا پکـې درنـګک لـه للـونی وګنـه
زه د ګـــودر مـــازيګری پېـــژنم

پـه هغـو سـترګو کـې څـه داسـې اثـر
هم پـري تېـر وخـم هـم يـې بنـی پېـژنم

مـه کـوه پـه زلفـو بـه دې اور ولګـي
د خپـل زړه زور خپـل اسـوېلی پېـژنم



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پـه سـپېلنو مـې سـترګې مـه ترخـوه
د محبـــت د اور لـــوګی پېـــژنم

پـه مـا يـې سـل زر ازمېښتونـه کـړي
مــا تيـارې پېژنــي، تيـارې پېــژنم

ډېرې خوږې دي خو خوږمنې نـه دي
ددې بــې خــوږو خلقــو خــولې پېــژنم

زمـا نـه لـرې بـه خوشـحاله نـه شــي
زمـــا **صــابر** زه د نـــزدې پېـــژنم

❋ ❋ ❋

د خـپلې مينـې امتحـان اخلمـه
د لېونتــوب د تـبې تـاب ګـورم
نن به د زړه په سترګو تکی تکی
سـتا د يـادونو د کتــاب ګــورم.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

پـه قصـد خـورې زلفـې پـه شـا اړوي
هســـې مـــې کفـــر تـــه اشـــنا اړوي

هـــره خبـــره مـــې تالـــه ترغـــه کـــړي
سترگې دې هـر څـه پـه خنـدا اړوي
ســـتا د خـــورو زلفـــو بـــلا واخلمـــه
پـــه تـــورو غرونـــو مـــې بـــلا اړوي
د نفرتونـــو گنهگـــار واعظـــان
مـــوږه د میـــنې د گنـــاه اړوي
یـــا لېـــوني دي یـــا مـــې نـــه پېژنـــي
څـــوك چـــې زمـــا د لارې مـــا اړوي
یـــوه نشـــه ده چـــې مـــې درد اړوي
یـــوه خنـــدا مـــې د ژړا اړوي

سترگې مې خامخا خوږې شي په چا
دچـا پـه جـنگ مـې خامخـا اړوي



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د هغـه ښکلـي د يـادونو بـاران
په زړه مې ښکې شو د ګلونو باران

خدايـه پـه دې مېخانـه ووروي
د محبـت د شـرابونو بـاران
پرېږده چې پرېوځي د نفرت برجونه
راشـه چې راشـي د ګلونـو بـاران
مه خه چې نه ځي د سپرلي وريځې
خانده چې ښکې شي د رنګونو باران
څومره خواږه شو ستا د ياد بادونه
څـومره ښـه لګـي د زخمونـو بـاران
پـه سـږني ژمـي سـوکړه د ديـدن
پـه سـږني کـال د غمونـو بـاران

پـه پرهرونـو کـې ګلونـه کـړو
پـه زړونـو غـوارو د دردونـو بـاران.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# فـطرت

کـه نغمـې تـولې ګونګـۍ شـي
کــه ســازونه زنځيــري شــي

د ګلونـــو بـــې وســـي شـــي
تکلونــــه تېزنــــدۍ شــــي
پرهرونــــه تــــول اوده شــــي
ارمانونــــه تــــول کانــــه شــــي
خـړيکي خـړيکې زړونـه بنـه شـي
د دردونـــو ادې مـــړه شـــي
خــو بيــا هــم چرتــه خــه کېــږي
خــو بيــا هــم جهــان بــدلېږي
چرتـــه وربېـــږي پانـــه
چرتـــه وخانـــدي ګلونـــه

چرتـــه وغړېـــږي ســـترګي
چرتـــه وخوزېـــږي غرونـــه.

۱۹۸۷



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# شک او شعور

ما د خپل زړه تسلي له
د خپل ذهن آګهي له
د دنیا بلا علمونه
د علمونو کتابونه.

❋ ❋ ❋

د نظر غبرګ له راوړه
د پرهر غبرګ له راوړه
خوا زما چې څه پکار وو
خوا زما چې څه پکار وو.

❋ ❋ ❋



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پـه دي يـو کتـاب کـي نـه وو
پـه دي يـو نصـاب کـي نـه وو
تسـلي مـي چـا ونـه کـړه
آگهـي مـي چـا ونـه کـړه.

* * *

چـي د هرخـه نـاپوره شـوه
چـي د هېچـا نـه ونـه شـوه.

* * *

د خپـل خيـال سـره جـدا شـوم
د خپـل زړه سـره صـلا شـوم
يـوه لاره مـي بنـا کـړه
يـوه لاره مـي پيـدا کـړه

* * *

دا اوږده لاره د شـــک ده
نېغـــه لاره د درک ده.

* * *

شـک کـه هرخـو د زړه نـول دی
خـوا بـي شـکه خـه معقـول دی
چي پـه شـک شعور مونـدی شـي.



(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون ټـولـنـه

نغمــې نغمــې نشــې خبــرې
ستــا د خــوږې کوکــۍ خــوږې خبـرې

پـه تمـامي عمـر کـې نـه ختمـېږي
د محبــت د يــوې شــپې خبــرې
پـه خولـه مـې هغسـې نيمګـړې ګـيلې
پـه زړه مــې هغســې پــرتې خبــرې
زه بــه تــر کـــومې ســموم خبــره
تــا قســم کــړې ورانــوې خبــرې
زه بــه د زړه خبــره څــه وکړمــه
تـه چـې پـه سترګو کـې تلـې خبـرې
اوس نه ساقي شته نه محفل نـه ډيـوې
څـه چـې وې ستـا ترسـره وې خبـرې
قاصــده هســې قصــه مــه اوږدوه
پــې مخــې نــه کــوې اوږدې خبــرې

نــن بــه دې غــم نــوی کـوم **صـابره**
دريـــادوم هغـــه زړې خبـــرې.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

درد مې اسویلی کړه بیا که خې نو څه
خان ته مې لوګی کړه بیا که خې نو څه

تـه او بیـا راتلـه پـه عقـل ګرانـه ده
زړه مې لېونی کړه بیا که ځې نو څه

ووایـه رښتیـا کـه خپلېـدی نـه شـو
خیر دی ما پردی کړه بیا که ځې نو څه

تندې تـه مـې وګـوره طـاعون نـه شـې
شونډې مې لوندې کړه بیا که ځې نو څه



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

سترګو له مې لړ غونډې خوب راوله
ورکې شوګیرې کړه بیا که خې نو څه

شپه ده شوګیره ده څه معلومه ده
ډکې پېماني کړه بیا که خې نو څه

مینه څه ده؟ ګله زه او ته څه یو
پوه مې لړ په دې کړه بیا که خې نو څه

کېنه د **صابر** په خوا کې کېنه لړ
ورکې يې ګیلې کړه بیا که خې نو څه.

❋ ❋ ❋

تا په ربښتیا محبت څه لیدلی
ته په ربښتیا محبت نه پېژنې
ته د وعدې په معنی څه پوهېږې
ته د وعدې احترام څه پېژنې.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# قطعات

ستا د ښاپست قصه دې بيا نوې شي
پــه مــا دې ښېرتــه لېونتــوب راشــي
زه د عمرونــــو شـــوګيرو ځپلــــى
څنګل سنګزنه کړه کـه خوب راشي.

❋ ❋ ❋

په غم کې ته يې په نغمه کې ته يې
تـه چرتـه يې چې پـه نشـه کې تـه يې
اوس خو چې هرڅنګه يې هرچرته يې
زمــا د زړه پــه آئينــه کــې تــه يــې.

❋ ❋ ❋

خلقو تـه څـه وايـې چې څه شوي دي
زړه خو چې څه شوي دي ښه شوي دي
د محبــت بــاران چــې چرتــه شــوى
هلتــه پــه کــاڼو کــې اوبــه شــوي دي.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

تاتـه لـوګی نـه شـو سـپېلنی نـه شـو
عقـل دې سـر وخـوري لېـونی نـه شـو

زړه د لويـــو لويـــو حــــا دثو بلــــد
ســتا د يــو نظـــر د تماشــې نــه شــو
ســـتا د انتظـــار پښتـــو نيـــولی زړه
د هر که وينې وينې شو خو توې نه شو
هغه شپه مې ستا په غم کې تېول وجود
څريکــه وه کــه درد و پېژنــدی نــه شــو
نــه ګلــه کــه ســتــا د مــخ رڼــا نــه وه
فکــر مـې آسـمان تــه رسېدی نـه شـو
دې ســـپرلي تـــه ځنګــه دعــا وکړمــه
يـو ارمـان مـې هـم پکـې زلمـی نـه شـو

ته ورته په سترګو کې موسکی خو شه
نـه بـه وي **صـابر** کـه درلـوګی نـه شـو



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

بې تا که هرڅه و خو هېڅ هم نه وه
دنیا که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه

ستا خورې زلفې یې راټولې نه کړې
سودا که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه
ستا د قامت د صلیب ویرېده
ګناه که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه
د مینې تکې پکې نه شو لوستی
رڼا که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه
نه یې سپرلی که نه یې اور وکړو
وفا که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه
ستا د ښکلا ګل پکې نه ټوکېده
صحرا که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه

د خاموشۍ په ژبه نه پوهېده
ژړا که هرڅه وه خو هېڅ هم نه وه.

۱۰ - مې ۱۹۸۶



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

څـــومره خـــواږه دي څـــومره ښـــه ملګـــري
د محبـــــت د ښـــــار درانـــــه ملګـــــري

چـــې دغــــه لار د منـــــزل ده او کنـــــه
هســـې بـــې خايـــه نـــه شـــي مـــړه ملګـــري
يـــارانو دوی تـــه بــــه څـــه صـــبر کـــوو
پرېـــږدئ چـــې پـــاتې شـــي بـــې زړه ملګـــري
ستوري، سپوږمۍ، لويه شپه، لار او صحرا
د مســـــافر زړه بـــــلا څــــه ملګــــري
ګــــل، ســــپرلی تمــــه انتظــــار او ځــــواني
ســـــتا د وعـــدې پـــه لاره تلـــه ملګـــري
د ژونـــد پــــه هــــر قــــدم پــــه هــــره لمحــــه
د میـــــنې خـــــوږه زه او تـــــه ملګـــــري

څـــومره پـــه ګرانـــه وو راغونـــډ ***صـــابره***
څــه پــه اســانه شــو خـــواره ملګـــري.



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# سنــــدره

په زړه مې ښکې شول د يادونو بارانونه، جانانه
نــــه راځي خوبونه
بيــا راتـــازه شـــو زاړه شوي پرهرونه، جانانه
نـــه راځـــي خـــوبـــونـــه
زاړه زخمـــونـــه مـــې تازه شو
هغـــه دردونـــه دوبـــاره شو
څنګه اوده شم څنګه وکـــړمه خـــوبونه، جانانه
نـــه راځـــي خـــوبـــونـــه
زړه مـــې نـــرى نرى څوږېږي
سترګې مې اور کوي سوزېږي
پـــه پـــرهـــرونو کې رانغاړمه دردونه، جانانه
نـــــه راځي خـــوبـــونـــه
اوس د خـــوبـــونو نه يـــرېږم
ستورو ته ګورمـــــه بورږنېږم
د زړه د درده تـــاووم تلـــي پيرونـــه، جانانه
نـــه راځي خوبونه.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ســتا د وعــدو خبــرې پتـې ســاتو
دپټېــدو خبــرې پتــې ســاتو

د پرهرونــو خــولې ګنــډلې ګرځــو
ســتا د بڼــو خبــرې پتــې ســاتو

خـپلې به څه وایو چې خـپلې مو دي
مــوږ د پــردو خبــرې پتــې ســاتو

پــه تــورو زلفــو مــو قسـم خــوړلی
د ســپینو خولــو خبــرې پتــې ســاتو



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

د واعظانو د فتوو د یرې
د مېخانو خبرې پټې ساتو

د سپکو خولو د شره ویرېدو
اوس د زړګو خبرې پټې ساتو

د زړه د درده خلق نه خبروو
په اسوېلو خبرې پټې ساتو

خلق زموږ رنګونه وپېژني
موږ که هرڅو خبرې پټې ساتو.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

زه د خپــل زړه زخمونــه پــټ ســاتمه
زمــا پــه سترګو کــې بــه ويــنې نــه وي
د محبــت پــه ســيند مــې زړه وينځلــې
زمـــا خبــرې هســـې ســپينې نـــه وي
چـــې د وهمونـــو د تيـــارو يرېـــږي
پــه هغــو زړونــو کــې بــه مينــې نــه وي.

❋ ❋ ❋

د محبــت پــه خــوږ مــې بنــاد ســاتلى
مـــا د خپـــل زړه کلـــى ابـــاد ســـاتلى
پــه هره شېبه مې ستا نــوم لېکلى
په هر پرهر کې مې ستا ياد ساتلى.

❋ ❋ ❋

ژونــد دى حوصــله ده هرڅــه هرڅــه ده
تشـــه د خوانـــۍ د تـــال جوتيـــه نـــه ده
عقلــه د دليـــل پـــه تـــول يـــې مـــه تلــه
مينــه خــو احســاس دى فلســفه نــه ده.



کــتابــتــون تــولــنــه (WWW.KITABTOON.COM)

# سنــدره

په ګـودر بـل شـو د رنګونـو مشـالونه
مـــــازیګر دی، ســـــپرلی دی
په اوبـو جـوړ شـو د ګلونـو تصـویرونه
مـــــازیګر دی، ســـــپرلی دی.

※※※

منګـــــی دي پېغلـــــې دي ګـــودر دی
داســـې موســـم داســـې منظـــر دی
خانـــدي کـــه ګـــل دی کـــه پرهـــر دی
لـــوپټې الـــوخي کـــه الـــوخي رنګونـــه
مـــــازیګر دی، ســـــپرلی دی.

※※※



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چرتــــه د میـــــنې ســـــاز غږېــــږي
څــــوك د ګلونـــــو نــــه تاوېــــږي
څـــوك د منګـــــي ســــــره ګډېــــږي
څوك د خندا په تار کې پيري پردي زړونه
مـــــــازيګر دی، ســــــــپرلی دی.

***

ســــــپرلی ګلونــــــه دي وږمــــــې دي
بنابســــــت اورونـــــه دي لمـــــبې دي
مینـــــه ســـــندرې دي نغمــــــې دي
څــوك غــږوي د محبــت خـــواره ســـازونه
مـــــــازيګر دی، ســــــــپرلی دی.



كـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

د زړه غمونه سپکومه خمه
چرته په لپو لپو ځښمه خمه

په رنځو سترګو يې ايمان راوړمه
هغه پې مخې له ورخمه خمه

د ريا خبري پوري نه پرېږدمه
زړه په شرابو لمبومه ځمه

ستا د بې سره سترګو اور اخيستی
خپل پرهرونه بلومه ځمه

د هغه ګل د محبت دمخه
په ازغو سترګې لګومه ځمه

دلته د مينې دنيا نه جوړېږي
ځان ددې ښاره صبرومه ځمه

ستا په خورو زلفو کې ځای نه شومه
د زړه ټوټې راټولومه ځمه.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

○

یــوه ناڅاپــه حادثــه د نظــر
مینـه یـو تـول یـوه تولـه د نظر

ستـا د ښو د زور خـو نـه وه کـه نـه
هـر څـو کـه ښـه وه حوصـله د نظر
زړه ته مې لږ د سترګو زور وښایـه
پرهــر لــه وروړه لمبــه د نظــر
سـاقي پـه نـورو نشـو اور لګـوه
پـه مـا خـتلې ده نشــه د نظـر
پرېـږده چـې وسـوځمه اور واخلمـه
نـن بـه دې ګـورم تماشـه د نظـر
نـن مـې د زړه پـه دنیـا اور لګـوي
نــن یــې بدلــه اراده د نظــر

تـا ورتـه هغـه شپه بې لوظـه ووې
**صابره**! تاتـه یــې غوسـه د نظـر.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

چــې زمــا د پرهرونــو مېلمانــه دي
ستا یادونـه کـه دردونـه دي خــوارۀ دي

زمـوږ زړونـه چـې د بـل رضـا تـه ګـوري
پـه سینو کـې کـه زمـوږ یـې زمـوږ نـه دي

هغــه خلــق د مینــو رهبــران شــول
چــې د میــنې د مســلکه خبــر نــه دي

پـه دې ښار کې بـه سرې سرې تـه ګورې
ددې ښـار بـلا سـرې، سـرې خــواره دي

د یـارانو خولې بـه څـه باندې خوږې شـي
کـه حـالات هغســې زهـر دي تراخـه دي



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

لویـو لویـو حـادثو تـه مخـامخ یـم
سـتا وړې وړې خبـرې مـې پـه زړه دي

چې پـه ښکلو پسې تلـې هغـه ورك وي
چـې د ښکلـو چـا منلـې هغـه مـړه دي

پـه سـاده سـاده کتـو د سـړي زړه وړي
دا واړه واړه پـې مخـي ډېـر پاخـه دي

د **صـابر** غونـدې بـې سـره لېـوني لـه
د الفـت پـه زنځيرونـو تـړل ښـه دي.

❋ ❋ ❋

## قطعه

چې خپـل قسـم خپلـه وعـده مـاتوي
په زړه يې څه دي چې مې زړه ماتوي
خدايـه د ښکلـو زړونـه ودردوي
چـې د مینـو زړونـه، نـه مـا تـوي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# ســـــره

زه پـــــه اختر کې د جانان کلي ته ځمه
زه دجانان کــــلي تــه ځمه
په ځان د هغه کوڅو خاورې بادومه
زه د جانان کلي ته ځمه.

❋ ❋ ❋

د هغه کلي په کوڅو کې ما محبت کړی دی
په دکانونو په حجرو کې ما محبت کړی دی
هلته ورځم د محبت رنګونه وړمه ځمه
زه د جانان کلي ته ځمه.

❋ ❋ ❋

هلته به هغسې ولاړ وي خواږه خواږه بادونه
بې محبته به لټاړ وي خواږه خواږه بادونه



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

زه د زړه ځړيکې پرهرونه بلومه ځمه
زه د اشنا کلي ته ځمه.

***

ياران به ټول په انتظار وي   زما په تمه به وي
صابره ماته به ايسار وي   زما په تمه به وي
زه د يارانو ميني نه کچه کومه ځمه
زه د جانان کلي ته ځمه.

***



کـتـابـتـون ډولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

چاتــه نظــر چاتــه لېمــه ووايــو
څـه نـه څـه هـر ښکلي تـه ښـه ووايـو

سپرلي مې لا د زړه سودا زياتـه کړه
نصـيبه! چـا چـا تـه سـپېره ووايـو
هـم انتظـار، هـم ملامتـه پـه مـا
د جانـان دې عـادت تـه څـه ووايـو
کوم ستوری ستا د جبين خال وګڼم
کوم ګل تـه ستا د حيا سره ووايـو
چې نه سپوږمۍ شته نه وږمه د چمن
جانـان تـه حـال دچا پـه خولـه ووايـو
پـه سـږني سپرلي کـې خـاورې مينـه
د سـږني سـپرلي بــه څـه ووايــو

پرېـږده چـې زړه د رقيبـانو وچـوي
راځـه چـې يـو بـل تـه د زړه ووايـو.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

د انتظــار جذبــه ســړه بنــه نــه ده
د پرهــر خړيکــه مــې اوده بنــه نــه ده

د ســبا ســتوري تــه څــه ونــه وايــې
ډيــوه بــه ووژنــو ډيــوه بنــه نــه ده

د غرمــو تـاو بنـه نـه دی تـوره بـه شـي
د غــرمې مــه راځــه غرمــه بنــه نــه ده

شــونډې دې ريــې چــې خبــرې كــوې
قاصـده بنكـاري چـې قصـه بنـه نـه ده



كـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

واعظـه مـه کـوه پښېمانـه بـه شـم
د ځوانـی ورځـې دي توبـه ښـه نـه ده

د محبـــت لېـــوني چـــا وژلـــي
د آشـــنا هســـې حوصـــله ښـــه نـــه ده

د تـــور اوربـــل تـــوره مـــا مـــه يـــروه
زه کلـه روغ ومـه کـه شـپه ښـه نـه ده

نـن بـه دي زړه خان سره وړي **صابره**
نـن يـې د سـترګو اراده ښـه نـه ده.

❋ ❋ ❋

## سور

اشنا که هرڅومره بې سوده شي هم
د چـا پـه بـدو ورځـو سـود نـه شـي
هغـه کـه هرڅـو زمـا ښـه نـه غـوارې
زمـا پـه بـدو ورځـو سـود نـه شـي.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# سنـدره

راشــه چـې وېرو د زړونــو پرهرونه، اخـتر دی
یو بل له جوړ کړو د ګــلونو امېلونه، اخـتر دی
ځان سره دېرې قصې راوړه
راشه زمـــوږ کلي ته راشه
په زړه راجمع ګیلې راوړه
راشــه زموږ کـلي ته راشه
چې راتاوده کړو د یـــادونو محفلونه، اختر دی
یاران که هـــرڅو مـرور وي
په اخترونو کـــې پخلا شي
خپګان که هرڅو زورور وي
پـــه اخترونو کې پخلا شي
راشــه چې یو بل ته لوګی کړو نظرونه، اختر دی
زموږه مینې چې پخلا شي
خلق دې هرڅه هرڅه وایي
زموږه زړونه چې صفا شي
خلق دې هرڅه هرڅه وایي
مـــوږ زنګوو د محبت خیـالي تالونه، اختر دی.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

زما وجود شوې زما ساه نه شوې
زما آشنا، زما آشنا نه شوې

دا بې هسې نه ده نو څه دې آشنا
زه چې لمبه شوم ته رڼا نه شوې

ماته خپل خان او خان مې ته ګڼلې
ته د خپل خان وې ته د چا نه شوې

سم د ماښامه دې وعده کړې وه
خو تر سحره راپیدا نه شوې

ښه ده چې دومره خو دې وپېژندم
مخې له راغلې وارخطا نه شوې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

زه وسوسـو پـه مخـه واخيسـتمه
تـا شـونډې پرانسـتې ګويـا نـه شوې

زه دې خپـل ځـان تـه ملامتـه کړمـه
د يـار بـلا زمـا بـلا نـه شـوې

سترګې يې بيا هم پښتني وې که نه
بې وفـا شـوې، خـو بې حيـا نـه شوې

زړه د بـلا خپـرو مـې ومينـځلې
خـو د وهمونـو نـه صـفا نـه شـوې

تـا د صـابر لبونتـوب څـه وليـده
تـه د **صـابر** د زړه سـودا نـه شـوې.

❋ ❋ ❋



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

د وربلونـــو د ګلونـــو قيصـــې
زمـــا پـــه زړه د بهـــارونو قيصـــې

پـــه خنـــدنو ســترګو کـــې وخنـــدوه
د زلزلـــو د تنـــدرونو قيصـــې

پـــــــــه مـــــــــا راوروه وورو
د محبـــت د شـــرابونو قيصـــې

اوس هـم خـوږې لګـي خـوږمنې لګـي
د هغـــز ورانـــو ګودرونـــو قيصـــې

راوبښـــوې مـــې د مـــودو دردونـــه
رايـــادوې مـــې د کلونـــو قيصـــې



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

په بوږنېدونکو اسوېلو کې پټې
د ترهېـــدلو نظرونـــو قصـــې

زه د ســپوږمۍ پــه رڼــا وېرمــه
د درد پــه څرېکـو د زخمونـو قصـې

زمــا د زړه د هــر پرهــر پــه ژبــه
د تبــر ســپرلي د ماښــامونو قصـې

**صابره** هېرې کړه که هېرې دې شي
د تــودې غېــږې د خوبونــو قصــې.

✲ ✲ ✲

## حقیقت

ما وې چې خه ورخه په مخه دې ښه
نــه مــې خــه يــې او نــه دې پېژنمــه
هغــه وې تــه بــه زمــا صــبر نــه شــي
زمــا **صــابره**! زه دې پېژنمــه.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# سـنـدره

په کابل مه وروئ
مه وروئ
نور د بارودو باران مه وروئ
کابل زموږ د مینې کور دی
مه وروئ
کابل زموږ د سترګو تور دی
مه وروئ
نور د اورونو باران مه وروئ
په کابل مه وروئ
بمونه مه وروئ
په کابل مه وروئ
کابل په دې دنیا [illegible]ست دی
مه وروئ
زموږ ښاېست زموږ زینت دی
مه وروئ



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

اورونه مه ورویږ
په کابل مه ورویږ، مه ورویږ
نور د بارودو باران مه ورویږ
د کابل ټول ګلونه ستاسو
مه ورویږ
د کابل واورې غرونه ستاسو
مه ورویږ، مه ورویږ
لېونو مه ورویږ
په کابل مه ورویږ
نور د بارودو باران مه ورویږ
د کابل ټولې مينې ستاسو
مه ورویږ
دا وجود ستاسو وينې ستاسو
مه ورویږ
راکټې مه ورویږ
بمونه مه ورویږ
په کابل مه ورویږ
د کابل وینه پښتنه ده
هسې یې مه تویوږ
د کابل مینه پښتنه ده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هسې يې مه سپکوئ
مه کوئ، مه وروئ
په کابل مه وروئ
نور د بارودو باران مه وروئ
کابل که وران شو ټول به ورك شئ
مه ورکوئ
ځانونه مه ورکوئ
ټول به په ټوله دنيا سپك شئ
مه سپکوئ
ځانونه مه سپکوئ
ځانونه مه ورکوئ
ځانونه مه ورکوئ
بمونه مه وروئ
راکټې مه وروئ
په کابل مه وروئ
نور د بارودو باران مه وروئ.



كـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

✵✵✵

ظالمــه يــاره پــه مــا زړه وســـېزه
مخـې لـه مـه راخـه چـې نـه دې ويـنم
زمـــا د زړه هغـــه زاړه زخمونـــه
تـازه شـي ويـنې شـي چـې ودې ويـنم.

✵✵✵

هغـه چـې خلقـو بـه وې نـه رغېـږي
خبـر يـې يـار! هغـه سـړى روغ شـو
اوس سـتا پـه نوم اورېدو نه بوږنېـږي
پـه تـا مـين سـتا لېـونى روغ شـو.

✵✵✵

ښنگـه **صابر** خـومره هوښيـار ومـه زه
زه پـه هوښيـارو سـترگو نـه تېـر وتـم
دې حـــادثې تـــه فكـــر وړى يمـــه
پـه يـو سـاده نظـر پـه څـه تېـر وتـم؟



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# هرټ اټيک

هغــــه زړه چــــې شـــور و شــــر و
اور اخيســــــتی ســــــمندر و

غورځنګونـــــه وو ســـــيلاب و
د نـــــادره مســـــتی تـــــاب و
لړزيــــده بــــه درزيــــده بــــه
خوزيــــده بــــه رپيــــده بــــه
لکــــه ځريکــــه پــــه ســــينه کــــې
لکــــه پــــړق پــــه ائينــــه کــــې
هغــــه زړه داســــې بــــې زړه شــــو
چــــې د مــــرګ پــــه خــــوب اوده شــــو
نــــه ځــــه ژاړي نــــه ځــــه ستايي
نــــه ځــــه غــــواړي نــــه ځــــه وايــــي
لکــــه کــــانی پــــه ســــينه کــــې
لکــــه داغ پــــه آئينــــه کــــې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# نور خوبونه نه وينم

نــور خوبونـــه، نـــه ويـــنم    نـــور غمونـــه، نـــه كـــوم
نــور پالونــه، نــه ګــورم    نـــور وهمونــــه، نـــه كـــوم
هـــــر څـــــه دروغ وختـــــل
يو خوب مې رښتيا نه شو
نـــور خوبونـــه نـــه ويـــنم
نـور پـه څـه بـاور وکـړم    څنګـــــه دروغ ومـــــنم؟
نـــــوره د زړه نــــــه اورم    نـــوره د زړه نـــه مـــنم
نـــور لېونتـــوب نـــه كـــوم
نـــور خوبونـــه، نـــه ويـــنم
يو خوب مې رښتيا نه شو



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

نور به په خوبونو کې مخ د اشنا نه وینم
بیا به په ګلونو کې یار په خندا نه وینم

یو پرهر مې روغ نه شو
یو خوب مې رښتیا نه شو
نور خوبونه نه وینم

هر پرهر مې هغسې څېرېکې کوي اور کوي
خوږ ځیګر مې هغسې سترګو ته پېغور کوي
ځان ته ملامته شوم
یو خوب مې رښتیا نه شو
نور خوبونه، نه وینم.

❋ ❋ ❋

## قطعه

زه د خپل ښار د خپلې خاورې سپرلي پېژنمه
ماته د نورو د سپرلو خبرې ځله کوي
واعظه! ته زما د ښار ښاپېرۍ څه پېژنې؟
ماته د چین د ښاپېرو خبرې ځله کوي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

○

ســتا د قامـت ســتا د وربلـه بـلا
پـه مـا پرېـوتي ځـو ځـو خلـه بـلا

مه په خورو زلفو دې لاس مـه وهـه
راپـــاروې راپســـې ځلـــه بـــلا
ســتا د نظــره هســې نـه يرېـدم
مـا دې پـه سترګو کـې ليدلـه بـلا
مـا مېخـاني تـه سـهي نـه بـوتللې
مـــا دې د ســـره پاســـوله بـــلا
زه د حــالاتو جبــر شــل نــه کړمــه
پــه مــا پرېـوتي ده څـه بلــه بــلا
کـــه دجانـــان د ســـوري لـــرې لاړم
خـوخې مــې نـه د زړه د تلـه بــلا

***صابره!*** ځوك د چـا بـلا څـه کـړي
د هـر چـا خپـل غمونـه خپلـه بـلا.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# هغه زخم

هغه زخم
چې په کوم زخم کې ته وې
ستا نامه وه
ستا قیصه وه
ستا د مینې تماشه وه
هنګامه وه
ځړیکې ځړیکې وو پرهر وو
خوړېده به
څڅېده به
ځړیکې ځړیکې
څاڅکې څاڅکې
هغه زخم
چې په کوم زخم کې ته وې
ستا قیصه وه
ته خبر یې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هغه زخم اوس ورغلی
هغه زخم مې ګنډلی
په دردونو
د دودونو په تارونو
د ګلونو په رګونو
هغه زخم
چې په کوم زخم کې ته وې
ستا په نوم وو
ټولو خلقو ته معلوم وو
هغه زخم داسې ورك شو
چې په سترګو لیدی نه شي
هن! په ګوتو معلومېږي
چې لاس وروړې خوږېږي
خو چې ته ګوتې ورنه وړې
ګنې بیا راتازه کېږي
وینې کېږي
پرهر کېږي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# بیا به راشې

په خبر راغلې
ستړی مه شې
څنګه راغلې؟
په خبر راغلې
په موده
په زمانه پس
چا درياد کړم
که دریاد شوم
که دې ياد وي
ستا خو هېر وم
ته خو ورك وې
په دنيا کې
د دنيا په رنګينو کې
په رنګينو ورځو شپو کې
ناوزګار وې



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

څنګ وزګار شوي
په موده په زمانه پس
د دنيا په پته پوی شوي
ژوند دي ولید
خان دي ولید
خپل قسمت درته معلوم شو
زه درياد شوم
ما له راغلي
خو په داسي وخت کي رغلي
چي زه هغه پاتي نه يم
په ربنتيا هغسي نه يم
چي کوم زه تا پېژندمه
هغه زه زما نه ورك دی
زما زړه زما نه ورك دی
لېونی دريسي ګرځم
په رڼا کي
په تيارو کي
په بازار کي
په کوڅو کي
په نشو په تماشو کي



(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

هغه زه چرته کې ګورم
هغه زړه چرته کې ګورم
سروهلی
بر وهلی
لېوني وریسې ګرځم
که مې ومونډ
نو وعده ده
هغه وخت به دې خبر کړم
که دې زړه وو
که وزګار وې
که راتلی شوې
بیا به راشې
چې زاړه وختونه یاد کړو
خپل خواږه یادونه یاد کړو.

❋ ❋ ❋

د خلقــو د شــکونو د وهمونــو چــې یرېــږې
بس مه راځه چې نه درځم چې نه کېږي خبره
د مینــې لېــوني خــه ګنهګــار د زمــانې وي
خبر یې چې په ښکلو پسې څه کېږې خبرې؟



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

وايــه كــه نــه حــال څــه دى؟
وختــه د يــار خيــال څــه دى؟

دې ښايســـت تــه عقــل څــه
دې مســـتۍ تــه تـال څــه دى؟
زړه كــه ســمندر نــه كــړې
نـور د عشــق مجـال څــه دى؟
ســـتا د ښـــو غشـــو تــه
زغـــره څـــه ده ډال څـــه دى
تـــا انتظـــار څـــه كـــړى
ستا وعــدې تــه كــال څــه دى
څــوك مــې پــه دې پوهــه كــړي
هجـــر د وصـــال څـــه دى؟

ســـتا نـــه بـــه توبـــه كړمـــه
دا دې پــه مــا خيــال څــه دى؟.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

میـــني تـــه درانـــه ګـــورم
هــر ښکلــي تــه ښــه ګــورم

مـــه کـــوه يرېږمـــه
سـتـرګو تــه دې نــه ګــورم
ســتا د ســترګو ســوی يـم
ځــم چرتــه اوبــه ګــورم
خپــل پرهــر تــه وګــورم
ســتا د حيــا ســره ګــورم
ســـتا د ښـــو بـــداخلم
زور بـــه د خپـــل زړه ګـــورم
خدای شته چې خدای ومنم
تاتـــه چـــي ســـم وګـــورم

تـــه او زمـــا خـــوا نيـــول
دا څـــه ويـــنم څـــه ګـــورم؟



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

ښــه وايــو د زړه وايـــو
يــو بــل تــه چــې څـه وايــو

يــو بــل تــه پــه ستر ګو کــې
هرڅــــه هرڅـــه وايـــو
هســې پــه مــوږ ښــه لګــي
هســې درتــه ښــه وايــو
ستــا مينــه پــه سترګو کــې
حسـن تــه لېمــه وايــو
ځــان تــه پــه سـندرو کــې
ســتا ويلـــي ووايــــو
تــا کلــه الفــت کــړی
حسنه! څـه بــه نــه وايــو

مينــه چــې محکمــه شــي
دا حــال بــه هلــه وايــو.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

چې نشه شم چې نشه شي
خومره بنه شم، څومره بنه شي

خو چې تاته مخامخ شم
تمامي وجود مې زړه شي

خوږې زلفې خواله راشي
حیراني مې یو په دوه شي

هله لاس مې په زړه کېږده
چې د خانه دې زړه بنه شي

راشه هله شپه په تلو ده
هسې نه چې ډیوه مړه شي

چې نشه څومره ترخېږي
ستا لهجه دومره خوږه شي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زموږ لوی لوی ارمانونه
زموږ سترګو کې اوبه شي

چې د ښکلو بوسه واخلي
د سړي ایمان تازه شي

د دنیا سترې غمونه
د **صابر** سره دمه شي.

❋ ❋ ❋

هغه شپه په هغه ځای
هرڅه وو خو ته نه وې
تاته که دنیا څه وې
ماته خلقو څه نه وې

❋ ❋ ❋

حسن چې بې سره شي
خپل لېوني ووژني
ستا هره ادا د مرګ
هسې مې خدای نه وژني.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

ســتا لیــده هــم حادثــه ده
خــو د نــه لیــدو نــه بنــه ده

په تـوده غېږ کې مـې واخلـه
زنـــدګي يخـــه ثلـــه ده

ســتا د يــاد پــه تــار يــې تــرم
ژونـد ســاعت دی کــه لمحــه ده

کــه رانغلــې ځــه بــه کېــږي
بــاران راغــی ډېــوه مــړه ده



(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

په سازونو کې ساه نه شته
د سندرو ادې مړه ده

د بلا غمونو خلاص شوم
ستا په غم کې خو مې ښه ده

مینې دومره خو مې پوه کړه
چې د ژوند فلسفه څه ده؟

د یار غمه پروا مه کړه
د **صابر** حوصله ښه ده.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بنـه لګـي خـواږه لګـي
سـتا کاتـه پـه زړه لګـي

دا کاتـه دي هېـر مـه شـه
دا تـا سـره ښـه لګـي
سـتا پـه وعـده څـه بـاور
سـتا پـه وعـده څـه لګـي
تـه او پـه رښتيـا مينـه
دا دروغ مـې نـه لګـي
عشـق لکـه د بـنګ لـوګی
کلـه کلـه ولګـي
هغـه سـړی هغسـې
هسـې پـه مـا ښـه لګـي

دا د محبـت نشـه
کفـر شـي هلـه لګـي.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

نن چې د چا هيڅ نه دي
هغه سبا هيڅ نه دي

زه چې د چا هرڅه يم
هغه زما هيڅ نه دي

زړه چې تول يې هرڅه وي
خو ر چې شي بيا هيڅ نه دي

خدايه په دې کلي کې
هېڅوك د چا هيڅ نه دي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دغــه يــو خــو ورځــې ژونــد
دا پــه دنيــا هېــڅ نــه دی

اوس د رقيبـــــــــــانو زور
ســتا پــه دعــا هېــڅ نــه دی

غرونــه غرونــه غــم د ژونــد
عشــقه پــه تــا هېــڅ نــه دی

هســې چــې بــې حســه شــي
حســن خــو بيــا هېــڅ نــه دی

هغــه چــې وئ هرڅــه زه
هغــه رښتيــا هېــڅ نــه دی.

✵ ✵ ✵



كـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

عشق کوو پښتو کوو
ژوند د لېونو کوو

سوي د ښاپست په اور
لويې په لمبو کوو

څو چرته د زړه په سر
سورې د بڼو کوو

زړونه مو زخمونه شو
ذکر د سپړلو کوو

غبرګ شو مازيګر او ياد
غم چرته د ښنبو کوو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مینـــه کـــه رښتیـــا نـــه کـړو
څـــه بـــه پـــه ځوانـــو کـــوو

اوس خـــو چـــې هرچرتـــه یـــو
غـــم ددې کوڅـــو کـــوو

ستـــا نـــه صـــبرومه زړه
ځـــان ســـره پښتـــو کـــوو

څـــه **صـــابره** خلـــق یـــو
صـــبر پـــه وعـــدو کـــوو

❋ ❋ ❋



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

چي مينه وپېژني
ما به هله پېژني

تا مينه څه كړي ده
ته مينه څه پېژني
ته د چا زړه ته ګوري
ته د چا زړه پېژني
داسي هوښيار شوو خلق
څوك به ونه پېژني
كه مېخاني ته لاړې
دنيا به وپېژني
ځان به تري څنګ ساتمه
ته خپل كاته پېژني

ستا مين ستا لېوني
ته صابر بنه پېژني.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

○

څه خواږه کاته کوي
مينې ته مې زړه کوي

څه د قهر اور کړي
څه د غضب تله کوي
عشق او صبر اور اوبه
هيڅ ګوزاره نه کوي
ستا په غم غني زړونه
نور غمونه څه کوي
هر پرهر مې هغسې
اور کوي اوبه کوي
ځه هغه يو بنګلي به
چا چا سره بنه کوي

هر څوك خو **صابر** نه وي
هر څوك بنګلي څه کوي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

○

دلتــــه مینــــه کفــــر دی
دلتــــه مینــــه نــــه کېــــږي

دلتــــه پــــه زخمونــــو کــــې
درد کېــــږي اوبــــه کېــــږي

هرڅــــه غریــــو نیــــولي دي
خدای خبر چې څه کېږي

هرڅــــه ســــتا دمخــــه دي
څه چې کېږي ښه کېږي

اوس زمــا د عشــق قیصــې
ستاســو پــه کالــه کېــږي

مــه راځــه چــې نــه راځــې
سوال زمــا نــه، نــه کېــږي.



کــتـابــتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

اورم چې سـپرلي راځـي
ښکـاري چې ساقي راځـي

مـوږ د محبـت د ښـار
مـوږ لـه زنـدګي راځـي
ښکـاري چـې راتلـونکې ده
مزکـه خـوزي ځـي راځـي
عقلــه مبـارك دې شــه
ځـان سـره دې وږي راځـي
دا ګـــودر پـــه تـــا ابـــاد
تالـــه لېـــوني راځـــي
زړونــه يـــې د کــانو دي
تـــا وينـــي ژونـــدي راځـــي
دا د زړونـــو لـــوبې دي
دې کــې تبــاهي راځـــي
ســتا د کلـي ډېــر خلـق
ســتا ذکــر کــوي راځـــي



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

عشـق داسـې په نخښـه کړم
غـم چـې چرتـه وي راځـي
وار وکـړه لـږ صـبر شـه
غمـه خوشـحالي راځـي
خـاورې بـه يـو مـړه بـه يـو
ښکلـي چـې راځـي راځـي
مينـــه کمبــدونکې ده
ژونـد کـې څـه کمـې راځـي

دلتـــه کـــې **صابر** مـــين
دلتـه خـو کـه مـړي راځـي.

✲ ✲ ✲

څـــه خـــواره خـــواره ګـــوري
وژنـــي مـــې چـــې مـــړه ګـــوري
ســـترګو تـــه دې ووايـــه
نـــور دې ماتـــه نـــه ګـــوري.



کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

خون به مې واخلي قاتلاني به شي
زلفې دې مه سموه وراني به شي

په آئينه کې ســـــــترګې مه توره
خان ته به وګوري حېراني به شي

زموږ وعدې د ښکلو ځنې نه دي
چې رنګ به واړوي ارزاني به شي

د محبت خوارې دې هېره مه شه
لارې که ګرانې دي آساني به شي

ستا د ښاېست تخم به نه ورکوي
د زړونو زمکې دې ودانې به شي

بــــلا دې واخلم زلفې مه خوزوه
بلا به واخلي بلاګاني بــه شي

د تورو سترګو دروغژني قيصې
صابره مه سپينوه ګراني بــه شي

Designed by: ShiPan

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)